# د تخت غمی

افغانی عشقی حماسی رومان (ناول)


لیکوال:

مصطفی حجب



۱۳۶۹

کابل



Download from:aghalibrary.com

135
AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00032969 7

# د تخت غمي

افغاني عشقي حماسي رومان (ناول)

ليکوال:

مصطفی حجاب

۱۳۶۹
کابل

ACKU
Download from:aghalibrary.com

# ژروڼ

دانیسي لطیف درانی
له خوا ږه او سپېڅلی
نا ده سره
چې ژو ندسی دهغی د
بېسا ری مهر با نی
پو رو ړ ی د ی

م. جهاد

ACKU

Download from:aghalibrary.com

داثـر نـوم: دتخت غمی
لیکوال : مصطفی جهاد
خپرونکی : دافغانستان د
لیکوالو ټولنه
تیراژ : ۲۰۰۰ ټوکه
مصحح او مهتمم : لیکوال
خطاط : حکیم فهیم
دچاپ کال : ۱۳۶۹
چاپ : (مانو تایپ) حروفی
چاپخونه : دولتی مطبعه

ACKU

Download from:aghalibrary.com

# دافغانانو دقهرمانۍ واقعي بنه

تردې عنوان لاندې مصطفی (جهاد)خپل یو(رېل) یا واقعي داستان چې په هغه کې یې ددو ړان اوافغان دیوې خاصې تاریخي دورې دیوه عیار ( کاکه شیر) کردار د یوه ( ژاند ارک ) اوناجی په صفت تصویر کړی دی ، ماته د کتلو او نظر ښکاره کو لو دپاره راکړ ،خو کله چې ما دا داستان وکوت ،د داستان د کتلو په وخت کې د یوی سلسلې تداعیو سره مخامخ شوم ، هغه داچې :

اول ـ دجهاد زلمی پیوزلی ، سخت رنځ اود ژوند بدو شرایطو ماته د فرانسوی مورخ « البرماله »دا خبره را په یاد کړه چې هغه لیکی : «دشاعرانو یو ـ اصلي صفت دا دی چې په ادبیاتو کې دآثار و په تنوع



Download from:aghalibrary.com

د نظم سره افسانې هم لیکي » . دده اشاره « بالزاك »
ریالست لیکو ال ته ده او و ا يي : د « بالزا ك »
شغل اول د دفتر منشیتوب یا د مطبعې کار یګري او
دحروف ریزۍ مصروفیت و . ده ته ترپایه د فرانسې
په فرهنګستان کې چا غړیتوب و رنکړ او د ژوند د
وروستیوسلګیوپه وخت کې یوازې « و یکتور هوګو »
و رته ناست و . خوده !

بلې ! بالزاك دفرانسې د کړ وړو په کردار کې
دنړۍ د ټا انسان غو ښتو نکي وضع په هند اره کې د
«بشر کمېډي» داستان ولیکه چې یوخت « ما کسیم ګور کی »
دروس د ملت ریالست لوی لیکوال وا يي :

«ماته د لیکنې لاره بالزاك خلاصه کړه » د دې
تداعی پربنا ماته دجهاد زلمی داستان چې د « کاکه ـ
هیر» دکرد ارپه هنداره کې دافغان ملت دخرخ شوی
پاچا امیر محمد یعقوب ، چې د « کمو ناری» انګریز
دبنده ګی کړی ته يې غا ړه ایښې وه او د افغا ن په
زړه ورملت يې ګیو ناری د بالا حصار په شا هې قصر
کې ایرې کړ ، ښه شر ګنده وا یسوده .

دو همه تداعی : وایي په همد غه دو ران کې چې



Download from:aghalibrary.com

کاکه شیر ژوند کاوه ، د کندهار چوڼی هم د انګریز
متج وزو لښکرو نیولی وه ، د کندهار په شاه بازار کې
«اکرم بابلوچ» ( کاکه یا عیار ) یوه ورځ کوږ مغزی
اوږد . شمله ، کوږ کوږ تېرېده ، یوه بل کاکه « بابلوچ »
پرېغ کړ : چوڼی دچا په واك کی ده ؟ «اکرم بابلوچ »
وویل : دوسرې سړه یې چې زما سر انګریز د ږخخه یونه
سی ؟ هغه وویل د رځه ! اکرم سملاوه او پېشقوضه رالې
وایسته . چوڼی ته بې ځان ور سا وه . دچوڼی دساتونکی
سر خوبې اول واز برې کړ او په ور کډ شو . ساعت
ګړی وروسته یې خاوېښت سره برې کړه ، په دې وخت
کې انګریزی پوره غونډ راغی او د « اکرم بابلوچ »
سرېې برې کړ ، خوملګری بابلوچ یې سر وا خست د
دانګریز دهغه ځای افسر یو لك کلدا ری انعام د
«اکرم غازی» پرسر کېښود . خو پېدا یې نکړ . نن
دهغه سر د کندهار د بار روالی مخې ته پسه سره
بسېر غ و بسا ړ ی . خسو پسر تنده او پسد ن يې
دلوی احمد شاه بابا د مقبرې سره بل زیارت جوړ
شوی دی اودمراد خاوندان دمراد غوښتلو دپاره د
لوی احمدشاه بابادمقبرې ترڅنګک د«اکرم غازی»(عیار)

( دری )

Download from:aghalibrary.com

زیارت له څی. دلته د تداعی جهت چېرې دی؟ وګورئ! د داستان په لمن کې د امیر یعقوب د نازولې میرمنې د غاړکۍ الماس د «کاکه شیر» د کوچۍ محبوبې په غوښتنه په هغې غاړکۍ کې ایښودل کېږی چې د «کېونارۍ» د قصر څوا نګریزی ساتونکی سرېږې پایلی او څنګه په شاهی قصر کې د امیر یعقوب بدن دوېرې په لړزه اخته کېږی او دا الماس د ده (امیر) د میرمنې د غاړکۍ څخه «شیرغازی» په زور کاږی او د خپلې محبوبې کوچۍ غاړکۍ پرې ښایسته کوی ، «شیرغازی» د بالاحصار په شاهی قصر کې د امیر محمد یعقوب انګریزی ساتونکی وژنی او امیر یعقوب ته په قهر وایی: د افغان ملت د دښمن بنده! دا د غاړکۍ الماس ستا د میرمنې مه بوله او هغه بې نه شی په غاړه کولای بلکه د «شیر کاکه» د محبوبې د غاړې وردی . داده د «اکرم غازی» «پایلوچ» او شیر کاکه په سره اورد ګډیدلو تداعی چې د افغان زورور ملت پرې نازېږی .

د جهاد د داستان شباهت په حماسوی او ریالستیک رنګ کې: د هومر Homer د یونان د لوی حماسه لیکونکی دوې حماسې مشهورې دی چې یوه یې د «الیاد» په نامه ده . په دې حماسه کې د «کاکه شیر» رول «اشیل» Achilles



Download from:aghalibrary.com

لوبولي دي، څنګه؟ وايي د «ترای» شاهزاده «پاریس» یونان ته سفر وکړ اود «سپارتا» شایسته میرمن «هیلن» یې وتښتوله. جګړه شروع شوه او «اشیل» پهلوان «هیلن» بېرته پاچاته راولی اود پاچا ناموس ګټی. مګر «کاکه شیره د «کیو ناری» څخه دده په ایری کېدلو هغه هم د بالاحصار په شاهی قصر کې د ملت د نجات او قهرمانی هېرو ګېډی چې د ملت قهرمانان لکه: محمد جان خان وردګ، ملامشک عالم او غازی ایوب یې ملګری او مشران دی. کاکه شیر بیاد انسانانو د ښمن کیوناری ته هغه درس ورکوی چې تاریخ یې له شی هېرولای.

د داستان د ریالستیکې برخې شیا هت:

د «هومر» یونانی لوی حماسه ایکونکی د «او ډیسې» حماسې سره دی چې د لرغونی یونان د مدنیت له روښانه کولو سره یوره مرسته کوی او د یونانیانو ژوند په واقعی بڼه منعکس کوی چې په دې وجه دې اثر ته د نړی لوسړنی ریالست اثر ویل شوی دې. نو که تاسې د ځوان جهاد «د تښت غمی» داستان وګوری نو تاسې به په «۱۸۷۸» م. کال کې د افغان د قهرمان یرغل د هغه وخت د قهرمانی واقعی بڼه په دغه داستان کې

وو یئ او و به وایاست، دې رومان ته د لیکوالو
تولنې په خوا کانکور کې په حقه لومړنۍ جایزه ور کړې ده.

ما د مصطفی جهاد «د تخت غمې»
داستان هم په غور و کوت، د لته د وخت
واقعیتونه هم په ریالستیک ډول منعکسه شوي دي او د «شیر و
کاکه» کردار د طاهر بو شنجي څخه ډیر لې تر
«شیر و کاکه» پورې، د لته د خاص تیپ کردار
ښئي. دد استان لوی کمال هم هغه دی چې د تیپ
خصلت با ید و ښئي یا خو ملي ممیزه څرگنده کړي.
د «شکسپیر» دا نګلستان لوی داستان لیکو نکی د
یونان د ملکې په حماقت ښو و لو کې د الیزابتې
حماقت پسند ه څهره، د «سره گل او سپین گل» په
داستان کې ښئي. خو ملکه د یونان نو لی. مگر د
جهاد رومان پخپله امیر یعقوب او دده ملت
خرڅول ښئي چې د تیپ او ملت رنگ ښو ل پکښې مضمر
پامل کیږي. دا داستان واقعاً ښه داستان دی
او لیکو نکی ته یې نورد لیکني توفیق غواړم.

خیر نمل محمد د بن ژواک

نوې مکرویان ـ ۲۲ ر ۳ ر ۶۹



ACKU

## دسر څو خبرې :

د کابل کاکه ګانو او عیارانو په باب ډېرې جالبې او په زړه پورې کیسې زموږ د خلکو ترمنځ موجودې دي. ددې کیسو اتلانو هر یوه له ځانه د مېړانې، تورې، هیواد پالنې، مظلوم دوستۍ، مینې او سرښندنې په ډګرونو کې داسې غوره کارنامې په یاد کار پرېښې دي چې ان تراوسه د هغو هره یوه د افغان خلکو بچو ته لوی او له ویاړه ډک درسونه ګڼل کېږي.

کاکه ګانو جالبې او ډېرې په زړه پورې ځانګړ- تیاوې درلودې، هغوی په تل ښکلې او لوکسې او کلکه هم جنګي جامې اغوستې، راز راز وسلې به یې د ځان سره ګرځولې، خو زیاتره به یې د هغو کسانو سره سر او کار درلوده، چې په خپل زور او یا زرو په مغروره شوي وو او

څوښتل به یې چې خواران آزار کړي ، او په دې کار کې
هومره بیړا که وه چې ان کله کله به یې د وخت له
باچاهانو او امیرانو سره هم دعوې وهلې . دغه شان
کله به چې له وطنه ، ننګ او ناموس څخه د ساتنې سوال
راښکته شو ، نو کاکه ګان به بیا په سیالۍ به دې
لاره کې یو له بله مخکې کېدل . څینې کاکه ګانو هر یوه
د ځان له پاره څینې ځانګړتیاوې هم درلودې ، څو دې
سره سره داسې ښکارېده ، چې هغوی ټول و دې د مېړانې
توري ، له مظلومانو سره د خوا خوږي او له زورو زو
سره د پنجې ور کولو درسونه یو ځای او په یوې مدرسې کې
لوستي وي . هغوی که څه هم چې زیاتره نالوستي کسان
وو ، خو په لوړ همت ، توري او غیرت کې یې هوچا ته
هم تن نه ور کاوه او یو تر بله زیات وو .

کاکه ګانو که څه هم چې له ډېرو پخوا مود و
راهیسې په بېلا بېلو سیمو او په زیاته بیا په ښارونو کې ژوند
کاوه ، خو په کابل ښار کې سل ، یو نیم سل کاله پخوا
د هغوی بازار شپه تودو ، چې دا ئې موږ به د هغوله جملې
څخه د یوه تن د ټورې ، مېړانې ، هېواد ولۍ او مینې په

باب یو هغه رومان چې هغه شوی تصویري او د فلم د داستان په څېر د بېلا بېلو صحنو او پېښو د یالو ګونو او رومانـ تیکي فضا، لړونکي وي، د رنو لوستونکوته په ډېره مینه وړاندې کړو.

باید وویل شي چې لیکوال دا رومان نژدې ۱۶ کاله دمخه لیکلی او د خانه سره ساتلی و، خو کله چې د هیواد د خپلواکۍ ګټلو د او یا یمې کالیزې د را نژدې کېدو له امله دا. ج د **لیکوالو** د ټولنې له خوا ادبي کانکور اعلان شو، نو دا زما د علاقمندۍ سبب شو، رومان مې را واخیست او نژدې دوه میاشتې مې پرې کار وکړ، خوشبختانه چې **کانکور** ته د آثارو د منل کېدو نېټه ډېره لنډه وه، نو ځکه هغه **مې** په بوغه بیړې سره ولیکه او د ۱۳۶۸ کال د سرطان په څلورمه یې لیکل بشپړ شول او که څه هم چې د یوه **ښه سرلیک** په لټه کې وم، خو بیا مې هم داستان کاندید **کړ**. چې له ښه مرغه د داوري د هیئات د نظر وړ واقع شو او د پښتو ژبې لومړۍ درجه ادبي جایزه ورکړل شوه. خو کوښښ مې کړی چې داستان لوستلی وي، د داستان د خوښولو او ستایلو تر څنګ یې ماته هر څې د استان د تجدید نظر په باب مشورې را کړي

او څنګه چې پخوا مې هم آرزو درلوده ، نو له دې امله رومان یو ځل بیا په بشپړه توګه تر تجدید نظر لاندې ونیول شو ، او د همدې کال د سنبلې په ۲۱ د هغه د بیا لیکلو او تجدید نظر کار سرته ورسېد .

څنګه چې د دې کیسې پېښې او حوادث زیاتره د خپلواکۍ له پاره د افغان او انګلیس د دوهمې سترې او تاریخي جګړې له پېښو سره په یو وخت کې رامنځ ته شوې دي ، نو هیله ده چې د هېواد د خپلواکۍ د ګټلو د اویایمې اختورې او ارتمنې کالیزې په ویاړ د دې کیسې د لیکوال د یوه واړه سوغات په توګه د نظر خاوندانو ته د پاملرنې او منښې وړ وي . په درنښت

ـ م. جهاد ـ

دلوی خدای په نامه

دبخت غمی



دکابل دپخوانی نامی چار چتـی یو ښکلی انځور هغه ځای چی ددی داستان دزیاتو پیښـو شاهـدو
انځور گر: استاد کریم شاه‌خـان (۱۲۳۸ ـ۱۳٦۸ هـ.ش)

یوځل بیا د کابل د بالا حصار د دارالسلطنې لوبې . دروازې وتړل شوې او له دې سره سم یو ځل بیا د کابل ښار د خلکو په غوږونو کې د خطر زنګ وکړنګېده .

هغوی به چې کله د بالا حصار دروازې تړل شوې ولیدې ، نو پوه به شول چې بیا ضرور په ملك او دولت کې څه غټه پېښه ده .

په بالاحصار کې د افغانستان د دولت مقر ، دار السلطنې چې د ډېر پوخ او پرېړد برېن دېوال ترې گرد چار چاپېره راتاو شوی و او په لوړو لوړو برخو کې

برجونه او خاص امنیتي ترتیبات پکې په نظر کې نیول
شوي وو، په ختیځې، لویدیځې او شمالي خوا و و
کې یې درې دروازې درلودې، چې درې لویې او لوړې وې
او هره یوه یې سره ددې چې د وسپنې، زیړو،
او انسو په ګل میخونو، میخونو او لویو وړو و
ځنځیر و نو ښکلې شوې وې، لهذا امنیتي نظره هم په
هغو کې خاص ترتیبات موجود وو.

داد بالاحصار دارالسلطنې ته د تللو راتللو دروازې
په هغه عادي حالت کې خلاصې وې، او سره د دې چې
سپاهیانو به یې تر سخې پیره کوله، بیګر خلک به په
عادي توګه د خپلو چارو او کارونو له لپاره به زړه-
وره توګه ور تلل او راتلل.

- خو کله به یونانیا په د بالا حصار دارالسلطنې دا
لوېې دروازې وتړل شوې، د زیاتره خلکو ور تګ
به منعه شي، دروازې خو تنه سپاهیان به د دې لوړې
شو یو درو ازو ترمنځې ولاړ وو او په بشپړ وا حضاراتو
څره به یې پیره او ګزمه کوله، په داسې حالت کې
به هیڅوک هم د بالا حصار خوا ته زړه ور نشو ور تللی.

پیر ه دا ر انو به توول راغلی کسان له دروازي څخه ډیر لري درول اوان درسمی او ضروری کارونو د سرته رسو او له پاره به بي هم بالا حصار ته د ورتلو لپار ه څخوی ته اجاز ه نه ورکوله . البته هغه شهیرکسان چې دربار ته ورته اجازه کړی وه له دې امره مستثناء وو .

او داسې د بالا حصار ددرو ازو پورې کسیدل، په ملك او دولت کې د بحرانی او اضطراری حالت نښه وه . هغه نښه چې د کابل خلك بي په راز پوهیدل . څوچی په رښتیاهم بیا بله ورځ به پیښه روښانه او معلومه شوه . د کابل خلکو به د بالا حصار د درو ازو په ترل کیدو سره دیو ډول بحران اوبی امنی احساس کاوه او څوچې به اصلی خبره او حقیقت ورته معلومیده ، څورا زیات به خواشینی او پریشانه وو .

د بالا حصار ددا رالسلطنې دروازې پو محل نژدې شل شپې مخکې هم بونا څاپه یو دوه ورځې وتړل شوي د کابل ښار د خلکو زړونه بیا په ترار ه شول، څوچې دوه ورځې پس د ښهر خلك خبر شول چې امیر صاحب شیر علی خا ن

په مزارشریف کې په حق رسېدلی او له ممکنو تشریفاتو
سره سم په خاورو سپارل شوی او دادی د هغه مېړه
زوی سردار یعقوب چې نژدې اته کاله او ان د پلار تر
مړینې د بالاحصار په خاصې بندخانې کې بندي و،
د دولت د مشرانو، واکمنو او وزیرانو له خوا د امیر
پر ځای پر تخت کېنول شوی او د هغه د امارت او
پاچاهي اعلام شوی دی، د کابل ښار خلک، که څه هم چې
ددې خبر په اورېدو سره متأثره شول او د امیر
صاحب د وفاتېدو په مراسمو کې ئې برخه واخسته، خو
داسې ښکارېده چې د امیر یعقوب خان په واکمن کېدو
ډېر زیات خپه دي. هغوی به په خپلو کې سره ویلې چې
اته کلن بندیتوب له یعقوب خان څخه یو ډېر ضعیف
الاراده، بې واکه او وېرېدونکی ځان ساتی سړی
جوړ کړی دی، نو په داسې حال کې چې هم انګرېزانو
یو ځل بیا زموږ وطن ته سترګې سرې کړې یدي او خپلو
پوځي سوقیاتو ته د پراو په اوږدو کې زموږ پر خاورې
او خلکو باندې ډېر ظلم او تېری کولو ته د چمتو
کېدو له پاره دوام ورکوي، نشي کولی د افغان خلکو
مشري په ښه ډول واخلي.

هغوی په رښتیا هم پوره سم فکر کړی و، ځکه یوازې د شولنډو ورځوله تېرېدو وس خلک پدې تر څه حقیقت خبر شول چې نوی امیر یو انګریزي حیثیات په پټه مدلی او د یوې لوز نامې د لاسلیک کولو په باب یې ورسره خبرې کړېدی او چې څو ورځې وروسته دا لوز-نامه د امیر او د انګریز انو د استازی تر منځ د ګندم-مک په سیمه کې، د خلکو له نظره پټه کوښی او له هغوی پټه لاسلیک شوه، نو د کابل ښار خلک پدې پوره داده شول چې امیر خان د پرنګیانو په لمنې کې ورواچاوه. ددې لوز نامې له مخې نه یوازې د افغانستان د ختیځې خوا د خاورې یوه لویه ترانګه د هغه له وجود څخه بېله او په برېتانوی هندپورې وتړل شوه، بلکه د پرنګیانو واکمن استازی په کابل او د ملک په ځینو نورو لویو ښارونو کې ومنل شول.

امیر یعقوب خان داسې ګڼلې وه چې له انګریزانو سره به دده دا اړیکې را زله خلکو څخه پټ پاتې شي او له بل پلوه، په دی هم د خپلې واکمنۍ د ټینګښت

له پاره د ډاډ ور تکیه ځای پیدا کړی ، خو نه ، هغه
پدې نه پو هېده چې له خلکو څخه هیڅ شی هم پټ نشی
پا ته کیدی . نو هغه وچې پدې باب هنګامې خولې په
خولې ډیر ژر د خلکو تر منځ تو دې شوې او ډیر ژر
دملك په ګوټ ګوټ کې ټول خلك پرې خبر شول .
هغوی سره ددې چې خولې هیلې ئې پر نګوانوته له ځان
سپار لی امیر څخه بیغی پرې کړې ، پدې فکر کې شول
چې له دې حمله ګر دښمن او تېرې ګو نکی غلیم سره
چې که څه هم یو وار پخوا په تور مخ له دې سیمې ځای
خاورې څخه په تیښته شړل شوی او ا ستل شوی و ،
خو دادی بیایې هم په زیاتې سپین سترګی او بې شرمی
سره زموږ دخاورې پالوالو دځلې وا کمنی دتېږګښت
ټوچ تکل کړیدی څه وکړی ؟

دا آوازې او هنګامې لکه تو ده سا د ټول ښار
په خلکو کې چلیدې ، د هغوی ټبو او پالونکو احسا ـ
سا توته یې اوراچاوه ، ویښه یې ور ته په جوش او سستی
را وستله اودې ته یې چمتو کول چې له پر نګیانو سره
د مقابلې او دغرو وهلو له پاره یو ځل بیا میدان ته

راودانګی. خو داده چې په دې سلسله کې یو ځل بیا د بالا حصار د دروازو تړل کېدو د خلکو په زړونو کې لوېې او پاروونکې اندېښنې راوېښې کړې. که څه هم چې هغوی تردېره وېرې پدې سم نه پوهېدل چې په څه چل وی، خو زیاتره خلکو دا ګومان کاوه چې هرڅه چې وی نو له پرنګیانو سره به د امیر یعقوب خان له سودا بازیو څخه واو لاړی شوی پېښې وی.
پدې څوور ځو کې ځینو خلکو د بالا حصار په دروازو - کې یو ډیم پرنګی سپاهی هم لیدلی واو په دې وجه د کابل د خلکو ترمنځ دا ګرمې آوازې په حقیقت بدلې دې چې د «کیو ناری» په نامه یو پرنګی (چې وروسته بیا افغانانو له ډېرې کرکې هغه د «کمناری» په نامه یاداوه) د پرنګی دولت دواکمن استازی په توګه کابل ته راغلی او له امیر سره د استوګنې په غوره کولو سره غواړی یو ځل بیا استعماری پلانونه زموږ په هېواد کې عملی کړی.

خو د کابل خلکو، د وطن ساتنې دې پیاکوا تلانو-لا زیات زغم او حوصله درلوده، لکه چې څو اړی

لومړی تر هر څه په ټولو پښتنو او حقا بقو څه سرو نه
خلاص کړی او بیا نو له برطانوي پرنګیانو سره دعوا ـ
ملي او دافغانانو دهیواد پالنې د رسوم نه هغوی ته د بیا
ور یاد ولوله پاره دخپلو ملي مشرانو او سپین ږیرو له
رأیې سره سم داساسي او ورځاري له پاره لاس په کار شي .

خو سره د دې هم لا د کابل په ښار او بازارونو ـ
وخوا سیمو کې لکه د تېرپان څخه د سختۍ کراري په
عمر آرامي حاکمه وه . د کابل خلکو په عادي توګه
خپل کار ، ژوند او ورځنی چارې پرمخ وړلې .

خود کابل ښار په هغو وختو نو کې او سنی بڼه او سازو ـ
سامان نه درلوده او د نني تمدن هیڅ نښه هم پکې نه
لیدل کیده . ښار زیاتره د بالا حصار په شا و خوا او
په تیره بیا د هغه په شمال او ختیځو خواوو کې
موقعیت درلوده چې هغو او یو لا رو او سړ کونو چې
ځینې یې په تږه و فرش شوی و . د کابل ښار په بیلا ـ
بیلو برخو ویشه ، چې کله نا کله به په هغو باندې کومه
هکلې اوخیال نګی په شرنګهار سره تیریدله ، خانانو
او اشرافو ښکلی آسونه او ان پیلان درلودل ، خوخوارانو
به پکې پلې سزلونه کول .

ده هرات زیات شمېر ښکلې، پراخې او دنګې کلاګانې
او کورونه، لوی لوی بازارونه، جوماتونه، مدرسه
ځایونه، او تفریح ځایونه، دولتي ودانۍ او عسکري
چهاونۍ په ښار کې آبادې وې. کورونو او کلاګانو زیاتره
لویې لویې دروازې درلودې، چې ځینې وختونه به ان
پیلان هم له باره سره پر هغو ننوتل.

د ښار په نورو شاوخوا سیمو کې بې شمېره معموري
کروندې او ښکلي لوی او واړه باغونه وو، چې د کابل
سیند لکه د یوه ابریشمي تار په څېر د هغو تر منځه غځېدلی و.
خلکو به په هغو ځایونو کې د بندونو د تړلو له لارې د
سیند اوبه ګرځولې وې او خپلې ځمکې، باغونه او کروندې
به یې پرې خړوبولې.

او په هغو وختونو کې دا شان هر څه بل ډول او بل
رنګه، مګر ښکلی کابل، دا د خیالي ګرانو زانګو
او تاتوبی هغه وخت هم خورا ښکلی او په زړه پورې وه.
څو لوی او مشهوره بازارونه یې درلودل، چې په هغو
کې د خلکو د اړتیاوړ موادو زیات شمېر دوکانونه
موجود وو. د کابل مشهور چارچتې هغه وخت د یوه
ډېر لوی او عمده بازار حیثیت درلوده. له دې څلورو

چتو څخه چې زیاتره سرپوښلی وی ، یوه چته هم چې د پایان چوک څخه دیوې او بلې کوڅې په توګه تر کاه فروشۍ پورې غزیدلې وه ، د پایان چوک د چتې او یا هم د زرګری د چتې په نامه یادیده چې په دواړو خواوو کې یې په رښتیا هم د زرګری زیات شمیر دوکانونه و ، خو دوه درې د قنادی دوکانونه ، بوسماوات او د کبابی دوکان او په آخر سر کې هم بوجوسات او درې څلور د خامتا بلورلو دوکانونه و . او په دې چته کې یوهم د زرګری هغه دوکان وچې د کابل په خلکو او ان د لرې میمو او اطرافو په خلکو او کوچیانو کې یې زیات شهرت درلوده .

دا په اصل کې پخوا د یوه ډیر متقی او نیک خویه زرګر دوکان و ، چې ویل کیده چې شتمن او خاندانی زرګر دی . خلکو به حاجی زبردست خان باله او په ډیر ویاړ او درناوی سره به یې د هغه نوم یاداوه او زیات درناوی به یې کاوه . خو پخپله حاجی زبردست خان څو کاله پخوا مړ شوی و او اوس د دکان ټول واک او اختیار د هغه د یوازینی زوی په لاس کې و . د هغه اصلی نوم شیرعالم و . خو په تنکی ځوانی ئی خلکو د ک ه

زرگر بچه، بیا دکاکه شوراو کاکه زرگرا. و بیا په وروسته کلونو کې دکاکه غازی په نامه هم یاداوه او دهغوی ترمنځ یې زیات شهرت او محبوبیت درلوده. هغه دکابل د ناستو کاکه گانو په جمله کې د خلکو ترمنځ په میړانې، تورې، سخاوت، ښندنې، وطن دوستی، خراباتو او مناجات کې ښه شهرت او اعتباری نوم گټلی و. شیرله اصله دهغه تره سمندر خان له کاکه گانو او عیارانو او دهغوی له ډلو او مجلسونو سره روږدی کړی و.

سمندرخان چې پخپله یې هم اولاد نه درلوده نو خپل یوازینی وراره شیر عالم ډیر زیات ډیر گران و. داسې چې په ماشوم توب کې یې بوه شیبه هم پر ځمکې کینا ستو ته نه پرېښوده، خو چې کله لوی شو او ستر گی یې په ښو او بدو ییو څه خلاصې شوی، نو سمندر خان به هغه زیاتره دځانه سره گرځاوه. په دې کې و، رو، و رود کابل له کاکه گانو او عیارانو سره دشیر آشنا یې تینگه او ناسته ولاړه زیاته شوه او دهغوی سره

ېږي و اخیستل او لکه د نورو کاکه ګانو په
شان ده هم د خراباتو، میړانې، زړه سوی او
ځوانۍ لاره پر مخ و نیوه او څو چې ډېر تره هوښیار
خاندو ېي اوږدې ناروغۍ څخه پس له ژونده
سترګې پټې کړې، نو له شېر عالم څخه هم هغه
کاکه شېرجونړ شوی و چې هیڅکله یې شا پر ځمکه نده
لګولې او ان د کاکه ګانو سرغنه ګڼل کېده.
داد ورکلو نه کېدل چې کاکه شېر د کابل له
ځوانانو او کاکه ګانو سره قدم وهه او د
هغوی له ډلو سره یو ځای شوی و. د ځوانانو
داسې بزم او مجلس به نه وچې ملته دې کاکه شېر ور سر
له وی ناست. هغه له کاکه ګانو څخه د رادمردی
ځوان دوستی او ځوانی کولو، تواضع، میړانې
مناجات او خرابات او هیواد پالنې لوړ درسونه
اخیستي و، دومره چې شېر د کابل د خیا لور و ځو-
انانو او نورو کاکه ګانو ترمنځ په میړانې
ځوانۍ او ځوان دوستۍ، سخاوتمندی او په ملګرو
ځوانانو او ښوا و مستحقو خلکو باندې ای په

خرابات او زیات خبر شي. کو لو کې لوی نوم
درلوده او له همدې امله هم په دې خو کلونو کې
چې د کاکه شیر پلار او تره مړه شوي وو، نو
هغه ته ایله د زرګرۍ له پنځو پر له پسې دوکا ـ
نونو څخه همدا یو دوکان او له خو جریبو ځمکو.
د ... باغونو او د وولو یو کلاګانو څخه هم
همدا یو . د تخته پل او آهنګرۍ د سیمې کلا ور پاته
وه او بس، نور هر څه یې پخپلو ملګرو او ځوانانو
باندې خوړلي او لګولي و. سره د دې هم کاکه
شیر عجیب خوی او ډېر لوی زړه درلوده.
داسې چې که بیا هم کوم نیستمن او مستحق ورته
ور پېدا لای وای نو په پوره بیا ورچې هغه د خپل جیب
پیسې او د خپل کور اوړه او وریجې غوړي هم
ورسره نیما یې کول. له بل پلوه کاکه شیر که څه
هم چې یو توریالی پهلوان او په غیرتمین ځوان
وه خو د دې تر څنګه یې په زرګرۍ کې هم له
خپل پلار څخه کمی نه درلوده او د هغه په لاس
جوړ شو یو ګانو هم په خلکو کې هغه ته زیات محبو-

بیت او ښه شهرت ور په برخه کړی و . کاکه شېرد دې تر خوا ډېر مغرور او بې پروا ځوان هم و ، د مېالی او هم چشمی په ډګر کې هر کله تر نورو ډېر ګام ترمخ د رېده . او د رقیبانو او حریفانو تر پوزې پاس خېژېده . دې هم نشوز غملای او بیا به ور سره لاس او ګرېوان و او تر هغو پورې به یې نه پرېښوده څو چې دی تو یې پرې نه وای ایستلی ، خو کاکه شېر لا ځوان او ډېر ځوان و . یو از یې د ژوندانه اته و یشت ښکلی پسرلی یې تېر کړی و . دد نګی او پلنې ی و نی ، قوی غړو او سترګو او ښکلی څېرې څښتن و . چې نر بو ، اوږد و او چنګو سه-تر پتو نو یې له وړی تو رې ږېرې سره . د هغه سپینه څېره . لا ښکلی او جذابه ښودله . هغه به زیا-تر . وختو نه ور پښمېینه لنګی وهله او د هغې اوږده شمله به یې له خپلی غاړی راتاووله ، چرمه کاری شوی واسکټ او خاسکی پخن داره جامې به یې اغوستې او ډېرې ښکلې پېښوری څپلی به یې په پښو کولی .

سپاوون مهال کله چې به د لمر زرینې پلوشې د کاکه

شېر د لویې او ښکلې کلا پر بامونو او دیوالونو خپرېدې
نو دغه سوړی نړی او پښتوانی نوکر شهباز خان کاکا ته
یاد کا که شیر سوړین خیالی آس دغه تللو ته چمتو کړی و
او تر هغو پورې به قبضه په لاس ورته ولاړو، چې کاکه شیر
به له بالاخانی نه ښکته راښکته شو. کاکه عادت درلوده چې
د کلا، له منځه به یې پر آس پښه اړوله او دوکان ته به
روانیده. د کاکه شیر لویه کلا د پښتوانی کابل د لاهوري
دروازې د تخته پل او آهنګری په سیمه کې د یوې لویې لارې
ترخوا پرته وه، د زنګ د زنګ دیوا لونه، هوادار، بالا
خانې او ښایسته خونې، لویې مهمانخانې او دوتلو دوه پر له-
پسې دروازې یې درلودې، چې پر خوا خلاصیدونکې دروا-
زې یې خورا لویې او په رازراز لویو سوځونو، میخونو او
ګل میخونو او غټو ځنځیرو نو تزیین او سمبال شوې وې.

ترڅو به چې کاکه شیر دوکان ته رسیده، نو شاګرد-
انو به یې دوکان هم ښه پاک او سمبال کړی و، له رسیدو سره سم به
یې یو شاګرد آس جلو نیوه او هغه به یې یو سرای ته بیوه او
هلته به یې تاړه او بیا به نور دری واړه شاګردانو تر تیاره
ماښامه پورې په زیات شوق له خپل استاد کاکه شیر سره په
دوکان کې کار کاوه.

کاکه شېر یوه تېښن سړی خو ډېر زړور او مېړنی سور درلوده، خلکو به ویلی چې هغه له اصله پښتنه‌مو‌نده‌ده، خو ګوره چې نصیب او قسمت خپل کار کوی او داسې د هغې قلم هم د زبردست خان سره وهل شوی و، چې هغه هم له اصله پښتون و، خو په کابل ښار کې یې د زیاتې استوګنې له امله پارسوژبه هم ښه ویلی شو.

د کاکه شېر مور ته خپل یوازینی زوی زښت ډېر ګران و. او نه یې غوښتل چې لکه د پلار په شان یې د خپل ایکی یو زوی د کوږدی او واده داغ له ځانه سره خاوروته یوسی. نو یې ځلور کاله مخکې هر څه لاس او پښې واچولې، او د خپل زوی کاکه شیر له پاره یې یوه حسینه او ددرانه خوی نجل پیدا او را واده کړه او دادی کاکه شېر اوس د یوه ګلالی زوی پلار شوی هم و.

د کاکه شېر کورنی له پلار پلاره د ښاریوه شتمنه او معتبره کورنی ګڼل کېده او د خلکو تر منځ یې ښه عزت او اعتبار درلوده، ان دومره چې د کاکه شېر مور او مېرمنې د کور پهچار و اوسېږو تود وکې لاس قدری هم نه وا هه‌اود- هغوی ټول کار او چوپړ د شهباز خان کاکا او د هغه د مېرمنې نازکو ټوړی له خوا سرته رسېده او داشان د کاکه شېر کورنی

نسبتاً سوکاله او ان یو څه اشرافی ژوند له ښېګڼو څخه برخوردار وه.

ددې تر څوا کاکه شیر په مظلومانو ډېر زړه سواندی او د بې وسو خلکو خواخوږی او ورسره د زیات زغم او حوصلې لرونکی سړی هم وه. کاکه شیر عادت درلوده چې په ډېرو خبرو به یې سر نه خوږاوه او ډېر څه به یې بابېزه ګڼل، ژر به چا ته نه په قهر کېده او نه بې هم چاته بې ځایه څه ته ویت او پاس ویلی. خو سګرددې ترڅنګ هغه کله هم چاته ټیټ او په سر وسترګو هم نشو کتلای، هغه شاهینی نظر درلوده ټیټه او کمه یې هم چاته نه ویلای او نه یې هم د زور او زر لرونکو څخه پروا ساتله خو نو په همدې وجه کاکه شیر سرزوری ځوان باله.

کاکه شیر د خپلو همدې خصلتونو په وجه د هغه وخت د عسکری هشت نفری خدمت هم په همداسې توګه مازې خبرې چې د کاکه شیر په ماغزو، او د هغه په ټو څه تند او غیرتی طبیعت به نه وه لګېدلي، دوه کاله بخوا سر ته رسولی وه. په هغو وختو کې قاعده داسې وه چې د هشتوا او اعتبار لرونکو خلکو عسکری نه کوله.

څو نورو به په اتنو او تن دتیا ګلی من دوری پورکړي سره له خپل منځه عسکري خدمت ته لیږه او دهغه دخدمت په وجه په نور اوه تنه هم دعسکري له خدمت څخه خلا صیدل .

هشت نفري ته د کاکه شهر د تللو خبره داسي وه چې څو کاله مخکې د کاکه شیر دکور د پښتو اني نوکر شهباز خان کاکا تربر ونو اوځینو نورو خپلو انوهغه ته داسې چل جوړ کړ چې هغه له خپل منځه هشت نفري ته ولیږي . هغوی پدې سلسله کې څه عرض او داد هم کړی واو شهباز خان کاکا یې دجلب سپاهي ته ورښودلی وچې ددوی پرځای یې هشت نفري ته بوزي. کاکه شیر پدې پېښې باندې له خبر ید وسره سخت په غوسه شو او چې هر څنګه کېده، نو شهباز خان کاکا یې بېر ته راووست ، نو یې دهغه تربرونو ته احوال ورکړ چې راشئ اوله کاکه شیر سره خبرې وکړئ. د شهباز خان کاکا تربرونو چې ځان له کاکه شیر سره مخامخ لیده، نو څوکسه مخېو به اوله پښو پاتې کسان یې پیدا او هغه یې ورولیږل ، هغوی کاکه شیر ته لههغه لوسری

سره لمن وغوړوله او هغه ته یې د عذر او زاری خانه ونیوله. کاکه شیر له عجیبې وضعې سره مخامخ شو. هغه پخپلې وړاندې څو تنه معیوبه، گوډاو ړانده لیدل چې هغه ته یې د عذر لمن غوړولی، خو د دې په مقابل کې باید کاکه شیر پدې راضي شوی وای چې خپل بې وسې خواراویو څه سپین ږیری شوی نوکر چې کاکه شیر ورته له پلاره څه کم احترام نه درلوده، د هشت نفری، خدمت ته ولیږی. هغه چې کلونه کلونه، د کاکه شیر او د هغه د کورنی د زښت ډیر صادقه نوکر په څیر له خپلې میرمنې سره د هغوی چوپړ کاوه او اوپر کاکه شیر لکه د ده خواږه او خوا خوږی دوست په څیر گران و. له بل پلوه کاکه شیر پدې هم پوهیده چې هغوی له شهبازخان کاکا سره په جل کې دی، مگر گوره چې څه یې په زړه وروگرځیدل، چې هڅونه یې یو څه زیږه شول، نو هسې چې هغوی ته یې د یوه شاهین په څیر کتلی، په یوڅه زهر ده یې ورته وویل:

-چې داسې د هغو تاسې ځی . هشت نفری او د ملك او خلکو خدمت په رښتیا هم د هغوی کار دی . . اوداکار زه پخپله کوم ، ځیء تاسې ټول خلاص یئ . . په مخه موښه ! . . کاکه شیر د هغوی په لاره کې ډیر څه کولی شی ، هشت نفری خود ملك او وطن خدمت دی .

اوداسې کاکه شیر د شهباز خان کاکا په خاطر پخپله خوښه دې ته غاړه کښودله چې پخپله د هغوی پر ځای د هشت نفری خدمت ته ولاړ شي . کله څه هم چې د کاکه شیر پلار حاجی زبردست خان له دې خبرې څخه په خبر یدو سره ، خپل زوی ته ډیر وویل چې له خپل دې هوډه واوړی او هغه ته یې داد ور کړ چې د پیسو په ور کولو سره به بل څوك د هغه پر ځای هشت نفری ته د لیږلو له پاره پیدا کړی ، خونه ! کاکه شیر پخپل هوډ ودریده او که څه هم چې نوی یې واده کړی و ، بیا هم په ډیرې خوښۍ خدمت ته حاضر شو ، مګر د حاجی صاحب زبر دست خان ښکته پورته ګرځیدو ، د یوه او بل لیدو کاکه شیر ته داګټه ورسوله چې د بالاحصار د دارالسلطنې په یوځی قطعې کې عسکر شی . خو کاکه شیر د ښکلې

او مېړنی ښې او پیاوړو او متناسبو اندامونو د لرلو له امله په خاص ټولی کې موظف او بیاد امیر د حرمسرا د خاص حاضر باش د دندې له پاره وټاکل شو .

د عسکری په موده کې کاکه شېر داسې له ځانه ، هوښیاری او زړه ورتیا وښودله چې ان د هشت نفری له ټیرولو و روسته بې ځوځله له هغه څخه وغوښتل چې د منصبدار په رتبه د حرم د خاص حاضر باش په توګه دنده په لوړ صلاحیت سره سرته ورسوی . خو کاکه شېر هیڅکله د دې دندې شوقمن نه و . هغه یرازې د خپل هوډ پوره کولو له پاره د هشت نفری خدمت سرته رسا وه . او کله به چې خلك د کاکه شېر له داسې خبرو او هوډونو څخه خبریدل ، نو داسې به بې ګڼله چې کاکه شېر ډېر هوښیار ځوان ، خو ډېر سرزوری کاکه دی ، داسې چې که هر څه و وایی نو بیا بې پرهره به چې وی سرته هم رسوی .

خو کاکه شېر له بل پلوه له ورکتوبه ځنګه چې زیا- تره به د خپل پلار سره ګرځېده او په تېره بیا له حاجی صاحب خیر الدین خان سره به د خپل پلار په مجلسونو کې بې د هغوی خبرو ته غوږ ایښوده ، نو داشان له سیاست

سره یې هم یوڅه آشنایي موندلې وه . پلاریې ښه تر ته ډېرځله د پرنګیانو سره د افغان خلکو د لوړې جګړې په باب ډیرې کیسې کړې وې چې دغې نه لږکې انګریزانو سخته ماته وکړه او دغوی له ډېر ستراو سمبال پوځ څخه یوازې یونیم ژواندی سپور ایله تر یوه ځایه ځان ورسولی شواوبس .

دې خبرواوکیسو دغه په زړه کې هم د وطنپالنې اورلګولی و، ان دومره چې ډیرځله به ارمان ورته چې کاشکې یې له پرنګیانو سره جګړې کې برخه درلودلای څوچې له یرغلګر غلیم سره یې په سپین میدان کې هم ځان آزمویلی وای .

په دې توګه له هغه وخته بیا تر اوسه کاکه شیر د ملک او وطن له سر نوشت سره د مینې لرلو په وجه تل هڅه کوله چې ځان په هیوا د کې له ټولو روانو سیاسي پېښو څخه خبروساتي . په دې برخه کې د کاکه شیریارانه لکه د خپل پلار په څېر ، زیاتره . له حاجي صاحب خیر الدین خان سره وه اوده . هغه اوس هم دورځې یودوه واره ځر ور د حاجي صاحب خیر الدین خان د و کان ته سر

ACKU

ښکاره کوی او د حاجی صاحب له درناوی او هېر اخستلو-
سره څه شېبه له هغه سره کېني او د ملك او وطن په حال
احوال ځان خبروی . کاکه شیر دغه راز د کابل له نورو
کاکه ګانو او ښو ځوانانو سره هم په مجلسو نو کې
زیاتره په همدې باب غږېږی او هغوی ته نوی اطلاعات او
تازه پېښې بیانوی او اورېدې شوې په همدې خبرو تیروی.
خو یواځې څو ورځې مخکې وچې حاجی صاحب کاکه-
شیر ته ډېر ترخه حقایق په ډاګه کړل او هغه ته یې دا
څرګنده کړه چې امیر یعقوبخان نور تش په نامه امیر دی
او نور ټول واك او اختیار یې د ډېر ژنګیانو لاس ته ور کړی
دی . د کاکه شیر، په دې خبرو باندې په خبر یدو سره
امیر ته سخته غوسه راځی او زړه یې غواړی چې که هر
څنګه کېږی نو بیوار ځان تر دې ډارن امیر پورې چې
غواړی د ټولو افغان خلکو نوم خدای مه کړه ورپه
کړی، ورو سوی او د هغه له څوږه دا خبره تېره کړی
چې خلك له پر ژنګیانو سره د هغه په سودا بازیو پوره
خبر شوی دی . او په دې وجه دی باید د خپلو شرموونکو
عملو نو سزا ته د خلکو له خوا سترګې په لاره اوسی .

کاکه شیر یعقوب ښه پېژني اوچې کله دی په بالاـ حصار کې عسکرو، نوپه سلها و وعده بې په یعقوب خان باندې دیوه بندی په څېر پېره کړې وه او دهغه خوار او زبون حالت بې له نژدې لیدلی و اودهغه له وېرندو کې او ځان سا تی طبیعت سره آشنا او په همدې وجه هم کاکه شیرته یعقوب خان یوداسې ضعیف الا راده سړی ښکار یده چې کله هم پر افغان خلکو باندې یې دوا کمنی صلاحیت اولیا قت نه در لوده .خواوس چې داسې شوی وه ، نو کاکه شیر دهغې ورځې په انتظار کې وچې څنګه یوځل ترا سره ځان ور سوی او هغه د خپلو ننګینو او شرموونکو عملو نو په نا وړه نتیجواو عواقبو ښه پوه کړی اوان دا ورته څرګنده کړی چې خلک نور یعقوب خان دخپل مشراو واکمن په حیث نه منی .

کاکه شیر تر دې مهاله خوخوځله له ځان سره دا سوچونه وهلي چې څنګه ځان تر یعقوب خان پورې ورورسوی، خو لا یې هم پدې باب څه پرېکړه نه ده کړې، چې پدې سلسله کې به څه اقدام لاس پورې کړی ؟

خوله دې هر څه چې ور تېر شو کاکه شیر یو و ښتنی،

پاك زړی او دحساس وجدان لرونکی مسلمان ځوان دی چې دوه لمونځ هم بې له جمعې او بې له جو ماته نه کوی د دې تر څنګه له خپل پلار نه کسب زرګری سره هم ډېره مینه لری او په دې کارکی هم له چا نه کم لاس نه لری. دژوند شپې ورځې دښو ځوانانو سره یوځای په ډېر خوند، خوښی، ویاړ او مزو سره تیروی. خو آیا شیر پدې پوهیږی چې روزګار او ژوند له هغه سره څه کول غواړی، هغه ته یې څه سنجولی دی، هغه ته څه لوبې او نخرې ور تر مخه کوی، څه دامونه یې د هغه دژوند په لاره کې ور ته غوړولی دی او څنګه هغه دخپلو راز راز نخرو په سختو او زورورو توپانونو کې ورلاهو کوی ؟؟

* * *

تنکی غرمه ده، آسمان لکه د ناپایه شین ډنډ او پراخې ډېلۍ پردې په څېر ښکلی او صاف دی، خو داوړی د لمر تود وخه خلك ځوروی، د زرګری په هټه کې لکه د نورو ورځو غوندی د خلکو ګڼه ګونه زیاته ده، د کبابی او د نانوا-یانو دوکانونو اشتها پارونکی بوی او لوګی ټوله

کوڅه په سر اخستې ده، کاکه شیر هم چې سپینې نازکې جامې یې اغوستې او په ملا او سټو کې یې د وسلو د ګړو لو چرسی کمربندونه د هغه له چرمه کاري شوي او پرده و اسکټ له لاندې هم له ورایه ښکاري، خو هغه بې خیاله سر تیټ اچولی او ټول فکر یې د هغې کړی جوړولو ته نیولی چې غواړي ه سره او شنه ښکلي غمي پرې ولګوي.

په دوکان کې بوخت وو انډې ښایسته ګل ناست دی هغه هم په څه شي بوخت دی، ښایسته ګل د کاکه شیر له زیاتو شاګردانو څخه یو قابله هلک دی، چې په زرګرۍ کې یې ان له ډیرو ورکتو په د کاکه شیر تر نظر لاندې داسې مهارت موندلی چې اوس کولی شي په خپله هم د خپلو مینه والو فرمایشونو ته ډیر ښه ځواب ووایي، ظاهراً هغه له څړو جامو، زري قرمس خولی او ژړ بخون پلن واسکټ څخه داسې ایسي چې د هغه ژوندې هم ډیر ښه نه وي، خو دا دی اوس داسې په څه کار بوخت دی چې ان یو ځل سر هم نه راپورته کوي، د دوکان هغه بل کونج ته د دوه نورو اړه هلکان هم د کاکه شیر او ښایسته ګل سره پخپلې اندازې کار کوي، یو یې دیوې وړې کڅوړې په بادوز کولو سره

ACKU

د سکروټو هغه اور تازه ساتي چې د یوه واړه نغري په څنګ
د ښایسته ګل تر مخې ایښودل شوی دی، خو هغه یې له د سپینو
زرو کومه جوړه شوې ګیڼه په څنګ‌شي موښي او ټاکوي یې.
دوکان او په زیاته پیمانه دیوالونه یې او دغه راز د دوکان تر
مخې ایښودل شوي ښیښه یي صندوقونه له راز راز ښځینه
ګاڼو او پسولونو څخه ډک دي.

ښایسته ګل څه شېبه اور کې ږدي او دا وار یې خپله پښه
یوې او بلې نلکۍ ته هغه شا و خوا سکر وتی پوکوي، پیانو
یوه شېبه دمه کوي او د زړه تی ګرمی د لاسه په ساره
دیوال ته ډډه لګوي او د یو ډول مطبوع سرو احساس یې ان
د زړه توس کېږي. څه شېبه د کوڅې لیرو بر خو ته نظر
کوي او ډېره شېبه لکه دا چې خوبوړی وي او په خوبکې څه
وینې، سترګې یې په کوڅې کې د لالهاند وانسانانو د ډېر
خواته څرګندېږي، راز راز خلک وینې.
چې په کوڅه کې آخوا دېخوا ځي او راځي.
ځینې سودا کوي، ځینې سره د ریږي او څه سره وایي
او ځینې نور هم خپله لاره وهي. په دې کې د ښایسته ګل
سترګې له لرې په دوو کوچنیو ښځو لګېږي. هغه داده

دې چې کوچۍ ښځې چې يوه يې ځوانه او بله يې بوډۍ زړه او سپين سرې ښکاري ، بلې خوا ته نه ځي او هر و مرو مخامخ د هغوی د دوکان ته راروانې دي . ډېر کوچيان د کاکه شير د زرگرۍ د دوکان پخوانی بيپاران او آشنايان دي او له بله دوکانه څه شی نه اخلي .
نو ښايسته گل کاکه شير ته مخ ور واړوی او په بوډۍ خوښۍ سره ورته وايي :

ـ استاده!... لکه چې بيا دې کوچياني بيپاراني راغلې ...

کاکه شير د ښايسته گل په دې خبرې لکه په خوب ورې چې اوبه و شيندي يو ناڅاپه سر را پورته کوی ، خو سترگې يې د ځوانې کوچۍ لکه د سپوږمۍ په شان سپين او گرد مخ ته چې پلو يې پرې راگرځولی او ته به وايي چې بنگړو يې توله کوڅه روښانه کړېده . برندې پاته کېږي حسينه کوچۍ پېغله له خپلې مور سره په ورو ورو او سوکو قدمو نواود پېغلتابه په خوند ورو ناز ـ نخرو او مکېز سره په رښتيا هم د کاکه شير د دوکان ته راځي او د دوکان تر مخې د خپلې مور ترخوا لږ څه د کاکه شير له

سترګو پناه دريږي. خو په همدې لومړي شېبه کې د هغې تورې غټې او خمارې بريښنده سترګې، وتلې او انارې بارخوګان، لمچکي قلمۍ او نرۍ پوزې سره چې کله کله د پلوله څنډې راڅرګندېږي، د کاکه شېر په زړه لکه څه عجيبه شان جادو اغېزه کوي، خو چې کله کاکه شېر له کوچۍ بې پروا او سر غړاندې ښاپېرۍ سره سترګې په سترګې کېږي، نو په ټول ژوندکې دا د لومړي ځل له پاره د کوچۍ پېرېښتې معصومانه آسماني ښايست د کاکه شېر لکه د سنګدان په څېر کلک زړه له ځايه راخوزوي او لکه ډولۍ پانه يې په رپېدو راولي او له دې سره لکه د ګلو نو د وږمو په شان د هغې د سينې معطره بوي يې په زړه کې څه نوي احساس او تازه ګيرا غورځوي.

شېر پر ته له څه ويلو يو ځل بيا سرترپايه کوچۍ پېر-يښتې ته ګوري او د هغې د ډنګې او غوښنې خونرۍ ونې او ښکلو خوش تر اشوا ندامونو په ننداريې سترګې خوږوي، کوچۍ پېغله له څپلې مور سره د دکان تر مخې په ايښود ل شوې قفسې کې موجودې ګانې سره ګوري او ډډې کې کله هم نا بېره د هغې حسين مخ د

پلوله پوښکې رانښکاره شي او داشان د هغې لکه د کوه قاف د پرې د ښایست په لېدلو سره د کاکه شیر زړه لکه پانه د سبا باد ته بې واره رېږي او داسې احساس کوي چې نور بې په زړه داسې څه کېږي چې لاس بې کار ته نه ورځي، څټکې له لاسه پرېږدي، خو چې هر وار سترګې را پورته کوي او نازنینې کوچۍ پېغلې ته ګوري، نو داسې ګڼي چې د هغې لکه د پرېښتا او سرو لمبو په شان اورني حسن بې اند پلوله شاهم سترګې پرېښوي او په زړه کې بې سختې ځړیکې خوځوي غلبلې ګډوي . کوچیانې لاهم له څه ویلو پرته د دکان تر مخې ولاړې دي، ګانې ګوري .

خو کاکه شیر د حسینې پېغلې د بې شانه حسن زورور سېلاو داسې په مخه اخستی او بې واره کړی بې دی چې نه پوهېږي هغوی ته څه ووایي او که نه لا بې هم پرېږدي چې هغوی پخپله یو څه ووایي. خو لاڅه زیاته شېبه نه وی تېره چې سپین سرې کوچۍ هسې چې کاکه شیر ته ګوري په کوچیانۍ لهجې او پردو او غټو غټو خبرو هغه ته وایي :

- ور وره ، بوه چمکلی غواړو ا . . . موږ خو ستا

ښاپیریان یو . . . مخکې وختونو کې مې هم څو ځله له تا نه ګانې اخستې دي . . . اوس مې دغې لورته یوه چمکلی غواړم . . . خو چې ښه چمکلی وي ؟ !

خو کاکه شیر چې په ټول ژوند کې د لومړي ځل له پاره ځان دداسې یوه آسماني خوتالا ونګر حسن په سیلاو کې ډوب وینی ، دومره بې لاس له ښوورك کېږي چې هلته سم نه پوهیږي چې کوچی څه ته څه وویل ، مګر هڅه کوي په ځان حاکم اوسي . خو بیرته تردې چې وغواړي ستر ګې بې بیا هم نا ببره حسینه کوچۍ له نظره تیروي ، او نه ولې نیولې وایي :

ـ څه . . . چمکلی موغوښته ! ؟ . . .

نور او لور دواړه له هوویلو سره سرونه خوزوي کاکه شیر شایسته ګل ته وایي چې په دوکان کې موجودې دیرې ښکلې چمکلی ګانې څخوي ته راو اخلی ، ته هسې چې خپل وور سټك بیرته را اخلې ، او ظاهر آ غواړي دپیغلې د سورپام له ځانه واړ وي ، نوهغې ته وایی چې :

ـ ته پخپله هم د دوکان په دیوالونو کې ځوړ ند و ګانو

ته پام وکړه ، نه چې کومه یوه دې خوښه شي !!

خو دکوچۍ پېغلې او دهغې دسور لکه چې نوي یې
کوم څه ته پام شوی وی ، ددکان د دیوالګانو ته یې
سترګې پاته کېږی او دا مهال دی چې ښایی هم د ګانو
دا لیدلو په شوق، پېغله په پلومخ پټول هېر وی . او دا
وار کاکه شېر ته فرصت برابر یږی چې د حسینې
پېغلې لکه د سپوږمۍ په څېر سپین او روښانه مخ او تر ګل
نازکو سپینو سرو بارخوګانو ، لنډې زنې او سرکېوورو
شونډو او ګانو خوا ته دهغې داړول شو پوتورو بادامي
سترګو او ددې له پردې راڅرګندې شوې لېونی کوونکې
او هوس پارونکې ښکلا ښه ډېره ښه ننداره وکړی .
هغه حسن چې لکه د سختو زلزلو په څېر یې په ټول ژوند
کې دلومړې ځل له پاره د کاکه شېر لکه ټېره کلک
زړه په ډېر قوت سره لړزولی دی او څه نوې نوې او خوږې
ولولې او هیلې پکې ټخنوی . په دې کې د کاکه شېر
دې ته پام اوړی چې کوچۍ پېغلې همدا اوس هم له
خپلو اوږدو او رنګارنګ کوچیانې جامو سره دومره
رازراز ګاڼې اغوستې، چې هېڅ کمی دې و نه لری.

دهغې په تور پټکی یوه پاولی داره تیکه‌خړیږی، پر
هسکې غاړې یې دسپینو ، زرو یوه ښکلې غاړکی تالونه
وهی او دسپینو زرو دوو پلنو کړو یې په‌سپینو او غوښنو متو
باندې داسې خوله‌لګولې چې ته به‌وایې کوم سخت وږې د پوښې
په کندک خوله‌لګولې وی، دې ته په کتود کاکه‌شیر خوله
هم او به کوی او زړه بې میښ مېښ کیږی ، لکه دا چې
دی دې دې پوښې خوړلو ته تره‌غو کړ وهم سخت وږی وی.
خود کاکه شیرستر ګی دهغې له زړه لړ زو نکی صورت
څخه یوه شیبه هم بلې خوانه اوړی ، ته به وایې چې
دکوچی پیر ښتې نازنین صورت آن دتوراو ږده کوچیانی
څو نړی داره تیکری له پلو لاندې هم دومره کشش
او جاذبه لری چې د کاکه‌شیر ستر ګې ترې بلې خوانشی
او ښتلای. کاکه‌شیر ته داسې ښکاری چې په زړه یې د پیغلې
د نافذو تورو ستر ګو سخت ګوزار خوړلی وی چې دادی په ټول
ژوند کې د دې کوچی پیر ښتې پیغلې دجادو ګر حسن په
وړاندې ځان سخت کمزوری وینی او داسې ور ته ایسې
چې دهغه غرور، کاکه ګی او عیاری داد ی د یوې ساده
خوځسېنی کوچی پیغلې دزړه لړ زونکی او اورنی حسن په

وړاندې په کوندو کېږي. څه شېبه د ځانه سره سوچ کوي
او پدې یې پوره باور راځي چې هغه هیڅکله هم داسې ښکلا او
جادوګر حسن چېرته نه دی لیدلی، همسې ښایسته سر او
صورت چې هغه د ځینو په وینا ته بهوایې چې په قلم جوړ شوی
او انځور شوی دی. کوچۍ پېغله داد ښتو او بیابانونو
هوی پهر ښتو یا هم ډېره ښایسته ده، کټ مټ لکه د ښاپېرۍ
په شان، له کوه قافه د راغلی پری او له آسمانه د راښکته
شوې پېریښتې په څېر. ښایسته ګل هم کله استاد او کله
هم کوچۍ پېغلې ته د سترګو له کونجه په کتو کتو سره په
هر څه پوه شوی، نو هسې چې په دې والونو کې ځوړندې ګانې
یوه یوه لټوی او ښې یې له منځه را اخلی او بیلوي
یې، په ډېرې حیرانتیا سره ګوري چې دا لومړی ځل دی چې
د هغه استاد کاکه زرګر داسې د دوې حسینې کوچۍ په
لیدلو سره ځان بایللی او د هغې د غږ څنګ وسترګو ښکار
شوی دی چې هوځان ترې ورک دی .

ښایسته ګل څلور پنځه داسې ډېرې ښکلې چمکلې ګانې
را اخلی او څول استاد ته یې ور کوی او پښتله د نورو د
ر احنستلو له پاره بیا هم د ګانو په کتلو لګیا کېږي، او چې کله

دمستر ګولاندې خپل استاد او کوچنۍ پېغلې ته ګوري، نو پوهېږي چې ډېرې شېبې په ډېر پدوسره کوچنۍ پېغله هم لا زيات د پلوله ځنډې د هغه استاد ته د مينه نا پاك نظر له کولو څخه هم سر په نه کوي. ښا يسته ګل دوه نورې ښکلې چکلي ګانې هم را اخلي او خپل استاد ته يې ور کوي، کا که شېر چکلي ګانې يوه يوه پېغلې او د هغې مور ته ور- ښيي او ور کوي يې، چې وي يې ګوري. او پدې کې پيا هم يوه لنډه شېبه، لکه د يوې پرېښنا په څېر له پلونېو لى حسونې پرېښتې کوچنۍ سره ستر ګې په ستر ګې کېږي او د کوچنۍ د غټو تورو پر يښنده ستر ګو تېره غشي ان د ګا که شېرد زړه په تل کې ښخېږي او د حسونې کوچنې د ملالو تورو ستر ګو په ننداري کې دامې څه وينې چې هلو په ر ښتيا هم ځان ترې ګرد سره هېرېږي.

خو وارتر وار زيات د پېغلې له مينې ډك نظره دامې احساسوي، لکه چې څوك يې په زړه د تېر و چړو څو ا يه خوا په ګوزارونه کوي . يو ځل هم وينې چې د کوچنۍ ښا پېري په نرمو سرو ګلابي شونډو ويا ندې يوه خو په او ا مېد وار ه و نکې موسکا ، ګل کوي

او د کال که شیر په زړه کې بیاهم راز راز اندېښنې ور
راپور ته کوي . خو بې زړو او ستړې حسینه کوچۍ لاله
خپلې سور سره چمکلی ګانې ګوري او هسې چې هغه یوه
یوه ښکته او پورته کوي او ښه یې ګوري، پخپلو سترګو
کې کله کله داسې څه و رو ، ورو ، سره وایي چې
کاکه شیر پرې نه پوهېږي. خو داوارچې کله کا نه شیر
غواړي بیاهم څه شیبه د حسینې پېغلې ننداره و کړي
نو د کوچۍ ښځې پرې پام کېږي ، نو ددې له پاره چې
د هغې په زړه کې څه نه وي ور ګرځېدلی ، نو په حیا
سره خپلې سترګې بلې خوا اړوي او بیا هم څه شیبه د
خپل و اړ. څټک په ښکته پورته کولو ځان مشغولوي
او سر ښکته اچوي ، هغه ځان په داسې زور ور سېلا و
کې لاهوشوی وینی، چې را وتل ترې ورته ډېر سخت
او ګران ښکاري .

پدې کې د پېغلې سور یوځل هغې ته مخ وراړوی او په
زغرده لهجه پرې غوسه کېږي :

ـ بې ملښتې انور خودې زړه راته تنګ که . . .
ته نو څنګه چمکلی غواړې ! ؟

دلښتې د نامه په اورېدو سره کا که شير تا ښېره تکان خوری ، سررا پورته کوی او دا سې په ښه ډول ويار او خوښې سره پېغلې خوا گوری چې ته به وا يې د هغې څه ډېر پټ او خورا قيمتي راز يې موندلی وی . د کا که شير په زړه کې يوه نوې او نابللې خوښې شور گډوی او له زياتې خوښې دا سې ورته ښکاری چې جامې يې پکې تنگې شوې وې ، ته به وايې چې د هغې د نامه په اورېدو سره يې د زړه په باغچې کې نوی او رنگين ښايسته او له په زړه پورو عطرو ډک گلان غوړېدلي وی چې د لښتې نوم هلته لکه د بلبلو د شخول په څېر انگازه کېږی، نو د ځانه سره وايې :

ـ لښته ! ... څومره ښکلی نوم !؟ . . . کټ مټ لکه تازه لښته ، ما ته را ما ته خوله گلو ډ که لښته . . . له سپينو او سرو شگوفو ډ که لښته ! . . . لويه خدايه څومره ښکلې ده ؟ !

خو گوره چې پدې کې يې ولې يو ناڅاپه د خپلې ميرمنې «سرغلرې» څېره په خندنيو سترگو ورته د سترگو په وړاندې درېږی او زوی يې اېرك وريادېږی ،

نولاحول والله وایی او پر شیطان لعنت کوی ، چې د پیغلې جادو گرحسن دی په څه لوبو سر کړید ی ؟ څه زورور جادوبې پرې کړی چې نشي کولی د دې سره سره بیاهم یوه شیبه خپلې سترگې د پیغلې له صورته بلې خواو اړوی ، نوله ځانه سره وایی :

ـ دا کوچی پیغله ... ! ؟ .. نه نه زه بنځه لرم ... زوی لرم .. . خونن زه دې خپل زړه ته حیرانیږم هغه به چې لکه دغره په څېر زلزلو نشو خوز ولی ، نن داسې ترپیږی لکه چې مرغی نوې په دام کې نښتې وی اودخپل خلاصون له پاره سراو ځان وهی خو کاکه څېر ته لهٔ دې دامه وتل ډېر گران ښکاری .

تردې وخته لکه چې د پیغلې اود هغې دتور جنجال دچمکلی په باب پای ته رسیدلی وی ، نوسور یې یوه چمکلی په لاس کې نیسی او هسې چې څېر ته یې ور ښکاروی ورته وایی :

ـ وروره ! ددې چمکلی بیهٔ دې را سره جوړه کړه کاشکی چې یو څه نورغمی خو یې درلودلی ... زما دالور دزیاتوغمیو لرونکی چمکلی غواړی ، خو خیر دا

یوه چمکلې یوځه د هغې خوښه شوه ... ځکه یې راته وواېه!

په همدې شېبه کې د کوټې په غولي تود او غلچکي نظر د شیر په زړه کې څه نوی قوت را او ښوی او د هغه په زړه کې څه خوشحالوونکی احساس را پاروی، نو په موسېدلو شونډو وایی :

ـ ښه خو یې جګه ده ... خو تاسو په ښار اتیا کابلي را کړی ؤ ... آخر تاسو زما عزیزان او ښاریان یاستی، کله مو به دې ښې چمکلې خپه کوم ... ترسر موځار !!

خو د ایینه لښتې ته دومره عجیبه او حیرانوونکې ښکاری چې « هووی ! اتیاروپی ؟ !» وایی او خاندی او ور پسې همې چې موسېدلی د پلو له پڅکې په غلچکی نظر کا که شیر ته ګوری، زیاتوی :

ـ څه د اسیر صاحب د تخت غمی خو به پکې نه وی لګېدلی چې دومره یې ښه جګه ده ... !؟

خو دلښتې دا خوره د شیر په زړه بل شانی اګازه کوی لکه چې ګوچی ښار ښیښه کا که شیر کومې آزمو یلې ته، کوم لوی او ډېر سخت آزما ښت ته ورټولی، نو د ځانه سره وایی :

ـ د امیر صاحب د کټ غمی ! ؟ گوره چې ناز نینې
کوچۍ پیغلې ، د د ښتو او بیا بانو نو دې ښا پیری
ته په دا د باچا د کټ غمی څومره عجیب شی ښکاری ؟
ښا یی دهغو نوم یې چیرته له چانه اوریدلی وی ، ښا یی
چاورته و یلی وی چې د باچا د کټ غمی ډیر ښا یسته
او قیمت بهاوی ... خو دا ته یې دا د څه د پاره وو یل ؟ ..
ښا یی هغه د خپلی مینې په درشل کې له شیره امتحان
اخلی ... نوچې داسې ده ... دا غمی به ورته راوړم !!
بیا نو یو ډول په خوښې کوچی پیغلې ته وایی :
گوره کوچی ! اوس چې دې دا هیله و کړه ، نو که هر
څنگه وشی ... دا غمی به درته راوړم او پدې چمکلی
کې به یې درته کینوم ... ما ته خلک کاکه شیر وایی
نو دا به د کاکه شیر نامردی وی چې ستا دا هیله او دا
دروند او پتمن پلوتش پریږدی ، یوازې یوه هفته مهلت
غواړم ، بیا ته به ورځ د چمکلی پسې را شیء هیله خدای
ته ده ... بې د دې نه هم ادې وویلې چې ستا دزیاتو
غمیو لړ ونکی چمکلی خو ښیږی .
کوچی سور او لور د رنگه شیبه د کاکه شیر دې و یل

او هوډ ته اړ اريانې غلې دريږي ، خو کاکه شير هسې چې تر سترګو لاندې کله کله په غلا د کوڅې په غلې ديدن کوي د ځانه سره سوچ وهي :

ـ لښتې ... د ګلو دې تاندې او ماتې راماتې لښتې دې د دښتو او دا ګونو ځا يږي په سخت امتحان کې را ګير کړم ... خو توکل په خدای ... زه بايد د امير صاحب د کټ غمی هغې ته راوړم او انشا الله چې را به يې وړم !

شير ته په ياد ورځي چې هغه پر ته د دې نه هم څو ځله د اچرت وهلی ، چې له امير سره د مخا مخ کتلو او هغه ته له پر نګيا نو سره دلاس يو کو لو په خاطر د افغا نی پيغور د څر ګندو لو له پاره پر بالا حصار ورو خيژی ، په تيره بيا اوس چې د هغه د تخت د غميو دراوړلو بهانه هم ور ته پيدا شوی نو دا کار به ضرور او هرو مرو ته رسوی .

خو البته چې په بالاحصار ورختل او له يوې پاچاهی او سلطنت سره دغرې وهل څه ساده کار نه دی ، د شير زړه غواړی او د کاکه شير غوندې بيباکه ځوان.

کاکه شير غواړی چې بالاحصار ته ، هلته چې دار السلطنه ده او ده يکې پوره ده وه . کا له څپله

هشت نفري سرته رسولي ده ، ولاړ شي ، خود وسره چې په پټه ، هغه فکر کوي چې دا مېړه تر حرمسرا ته به ورتللو سره به هر څه وشي ، هم به امير وکتلای شي او هم به د هغه له تخته غمي راوړي .

خود کوچی پېغلې فتنه ګرې ستر ګې چې ټې به پټه يې د کاکه شېر له زړه سره تارونه څخلولي ، پداسې حال کې چې د يوې دروني حېرانتيا نښې ئکې له ورايه ارېښې ، څه شېبه پياهم د پلوله څنډې د شېر له ستر ګو سره مخ په مخ ګېږي ، هغه ستر ګې چې کاکه شېر هغوته په څېر کتلو سره له يوې ډېرې رنګينې ، خوږې او په زړه پورې دنيا سره آشنا کېږي . شېر د کوچی پېغلې په تورو غټو بادامي ستر ګو او د هغو په جادوګرو کتو کې د داسې اورنی سېنې سرغړاند ه ملي لمبې وينې چې دی لکه پتنګ د ځان خوارا کاږي . پدې کې پېغله او د هغې مور له زرګر سره د چمکلي پيه بها خلاصوي او پس له دې چې له هغه سره د چمکلي دوړو ، بيه تاکي ، نو د شېر له دوکانه روانېږي اوځي . خولا د ير نه وي لرې شوی چې پېغله بو ځل بيا هم مخ رااړوي او په موسکی څېرې د خدای پاماني به

توګه کاکه ښهر ته يو ځل ګوري . او ښهر هم ترهغو
پسې ګوري چې کوچې پېغله اوموريې دبازار په ګڼه
ګوڼه کې دهغه له سترګو پناه کېږي .

ښهرۀ بره شېبه يوډول چرتي پاته کېږي او پدې کې
ښايسته ګل هسې چې له سترګو لاندې خپل استادته
ګوري، په يو ډول احتياط سره ورته وايي :

ـ استاده ! . . . څه چرت وړی يې . . . نهچې .ا؟

ايله چې دښايسته ګل په دې خبرې دشير،خان ته
پام کېږي ، نو ناپېره لاسونه سره ترلي پورته کوي
شخي پاسي او بيا نولکه دهغه چا په شان چې اوږ دمنزل
يې وهلی وي او ډيرستومانه اوويې شوی وي ، ښايسته
ګل ته مخ اړوي اووايي :

ـ هيڅ نه دی ښايسته خانه ! . . . تهووړوته پوسې
ور کړه چې ولاړ شي او نن يو مزه دار اوغوړ کباب راوړي . .
شهپا زخان کاکا زن نشته چې ډوډۍ له کوره راوړي . .
او ددې خبرې په کولو سره لکه دا چې نشي کولی
داسې ژر کوچې حسينه پېغله هيره کړي، يو ځل بيا د

ACKU

هغې کوچۍ او د دښتو او بیابانو د پرېښتې د خوږو خیالونو په ناپایه سیند کې لاهو کېږي .

او داسې سرغړاندې کوچۍ لښتې په کاکه شیر ، په دې نه تسلیمېد ونکې اتل زمري باندې پېدېږي ساده ګی هسې سخت جاده و کړل چې د هغه زړه یې پخپلې مینې او یارانې کې ورګرو کړ او هغه یې له راز راز اندېښنو او خیالونو سره سر کړ .

* * *　　　* * *

شوه له نیمایی هم تېره ده . کاکه شیر له خپلو دوه تنو نورو ملګرو دوستانو سره د خپلې مهمانخانې په بالاخانه کې پروت دی ، هغه تر همدې څو شېبو مخکې هم له خپلو میلمنو سره ویښ کېناستلی ، خو په پای کې هغوی غزیدلی او خوب وړی دی ، خو مګر شیر ته خوب نه ورځي خوب یې له سترګو تښتیدلی دی . په بستري کې کله په یوه اړخ او کله په بل اړخ لټ په لټ اوړي اولکه دا چې کوم سخت زهر جن مار یې زړه چیچلی وی سخت نا رامه دی ته به وایې چې څه که ځای

ټکور کوي . او کوم ځوروونکی درد او سوی یې
آرام ته نه پرېږدي . خو مګر هغه خوشحاله دی
چه خوږه خوښي یې په زړه کې غوړېدلې ، داسې ګڼي
چې هلو په ژوند کې یې یوه ډېره لویه او زړه راښکوونکې
هیله پیدا شوې ده . داسې احساسوي لکه چې له
هر څه او هرې خوا څخه د کوڅې لښتي د خوږې مینې
بوی ورې لګېږي او د هغه زړه لکه په ګل ورېدلې
پرخه تازه کوي . کله هم د لښتې د پاسته او خوا وه
آواز او ـ وړو ، وړو څېرو زمزمې لکه سبا او ماښام
چې له ځنګلونو څخه د مرغانو د چغېدو آواز له لیرې
څخه تر غوږه کېږي ، د کاکه شېر په ماغزو کې
انګازې کوي ، شېر او پر دې شېبې د بالا خانې له پټه
دارې ار مې څخه چې پټو ته یې د تودوخې له امله
پورته کړې دي ، د هغې سپینې سپوږمۍ پیکه رنګه
پلوشو ته په ځیر ځیر ګوري ، چې دا نګړدو نود څانګو څخه

دهغه پر بستري را پرېوتلې دی . کاکه شېر دهغه
په سترگو باندې دسپوږمۍ د پلوشو د لوېدو نکې رڼاله
را لوېده و سره و ېنې چې دسپوږمۍ ټيکله دپاڼو او
څانگو له پلو څخه کله کله ، لکه کوچنی لښتې چې ورته
کتل ، هغه ته په ځلا ، غلا گوري او شېر ددې رڼو
پلوشو په زړ ېنو تنا بو لو کې دخولې دې لکه گل نوې
غوړېدلې مخې مرغلرن ځيا لو نه ښکاري ، بيا بې
بو نا ځا په فکر ته راغی چې دی بايد د امير صاحب
د تخت غمی راوړی او دملالې کوچنی په څنگلی کې
بې کېنوی او دا نو دهرچا کار نه دی .
په ځانگړې توګه بيا چې په دې ورځو کې دا آوازه لوېدلې
چې دانگرېزانو يو پوځ هم په بالا حصار کې پروت
دی . خو کاکه شېر له کوچنی والي سره ژمنه کړې چې
هغه به ورته راوړي. هغه په ټول ژوند کې ان د خپل سر په بيه
هم ندی حاضر شوی چې خپله ژمنه او خپل هود مات کړي . مگر

پدې ډاډه دی چې هغه خوښېده ( هشت نفری ) هم په همدې بالا حصار کې تېره کړېده او د بالا حصار ټولې برخې لوېشت په لوېشت او لوټه په لوټه ور معلومې دی . هغه ته د امیر صاحب د دربار، د امیر صاحب د مجلس او لید نو کتنو، د امیر صاحب حرم سرای او ان د امیر صاحب په حرمسرای کې د هغه د خوب، خوړو ټول ځایونه پوره ور معلوم دی . او پدې شېبې بالا حصار ته دور تللو له پاره چرت وهي او ډېره شېبه پس له ځانه سره سبا شپه بالا حصار ته د تللو نقشه باسی ، ښه پرې فکر کوی او د اد ځانه سره سنجوی چې هغه باید څه وکړی . ؟

پدې کې یو ځل بیا د لښتې د تور ټېکي خیال زړه ته ورلوېږی چې د هغې په سپین و چولی را پرېوتلی او

ACKU

سرو نو بې دهغې ددو اړو بار خوګانو تر خوا حلقې خوړلې وې او لکه دما رانوپه څېر بې د هغې د سوون سپوږ سی مخ، سرو اناری بارخوګانو او د وو ړ یښندو یادامې ستر ګو خزانې ته تلې . دې خیال اوړ دې شېبې د شیر په افکارو کې ریښې وځغلولی . اود اسې کاکه شیر اوړ ده شپه ژوندی او په و یښه ترنژ دې چړ بانګه پورې راوړ سوله . خو لا چړبانګ شوی نه و ، چې دشیر سترګې په یوه آرامه خوب سره پټې شوې لیښته بې په خوب کې و لیده چې په خند اخند اغاړه غړې دهغه غیږې ته ورځی . خو سم له دې سره چې شیر غواړی هغه په غیږه کې ټینګه کړی، ملاصاحب «الله اکبر» د سبا د لما نځه آذان کوی شیر راپاڅیږی کلمه وا یی او ځی چې د سبا د لما نځه له پاره اود س تازه کړی او بیا خپل ملګر ی هم لما نځه او اودا سه ته راپاڅوی .

* * *　　　* * *

گا که ښهر حمله پیش قبضه ، سپلاوه او تلوار هر څه تیار کړی او ور پښ ناست دی او چې گوری شپه څه پخه شوه ، نو پر ته تر دې چې څوك بې په وتلو پوه شی ، په آس سور بېږی او له کلا وځی او د امیر صاحب د تخت د غمیو په راوړلو پسې خوزیږی.
شپه له نیمایی هم تیره ده ، سپوږمی د ښهر دروازې د غره په یوه کنډو کې دلویدو په حال کې ده او د ځلو ورو ستیو ور انگو د ځادر په راټولولو سره په ځار بانډې تورو تروږمی و زرونه خپروی .
پدې کې یو سپور د ښهر دروازې له غره څخه د خواجه خورد ك له دړه ی ورو ، ورو په بالا حصار ور ښکته کیږی ، پدې حال کې هغه یو ځنگی سپو رښکاری ، مگر هغه کاکه ښهر دی چې غواړی په هغه یو ځان له یوی باچاهی سره لاس و اچوی او څه شی چې غواړي هغه تري راوړی .
خو اوس چې په بالا حصار څیږی نو د غمیو راوړل

بې یو ازینې مقصد نه دی، هغه غواړی چې په بالا-
حصار کې دا نګریزانو د استوګنې او موجودیت
په باب هم معلومات پیدا کړی او انګریزانو ته
د خطر د زنګ په شېر د اخبر داری ورکړی چې
اڼیو افغان هم کولی شی هغوی ته لوی سرخوږی
او کړاو پیدا کړی، او له دې امله کله چې شېر
د هرې پېښې کېدو ته ځان چمتو ګڼی.
کله چې شېر د غره د کنډو تر خوا د یوې ونې تر څنګ
له آسه راښکته کېږی. آس د ونې په ډډ پورې
تړی او پخپله وروورو د بالا حصار دلویدیځې
خوا پاخه او ډېرېن دیوال خوا ته نژدې کېږی او د دیوال
په خوا کې تر یوه ځایه مخکې ځی، څو چې په دیوال
کې له پاسه یو درز پیدا کوی، نو په ډېر تلوار
پګړی له سره راخلاصوی، په یوه سر کې یې یوه
غټه او اوږده ډبره تړی او د دیوال درز ته یې ور
اچوی. د ډبرو د سره لګېدو آواز پورته کېږی او د
تیارې شپې په چوپتیا کې یې غبرګ انګازه کوی. شېر

شپه په دقت غوږ نیسي، چې څه کیږي. خو کوم عکس-
العمل نه احساسوي. مګر تیږه د دیوال په درز کې
کلکیږي. شور څو واره هغه ورو، ورو کشوي
او چې پوهیږي تیږه د دیوال په درز کې ښه کلکه
شوې ده، نو د پګړۍ په نیولو سره لکه چور په
دیواله ور خیژي، آخو لږي دوه قدمه پورته داران
وینې، چې ګرځي او پورته کوي. خو شپږ درنګه نه
کوي، پګړۍ ته سلا ترې، لو سرې یو بام ته خېژ
اچوي او ورو ورو ستنه بیا د هغه ځای ته ور اوړي او د
لږې شېبې له پاره دیوال تیاره دیوال له څوا ته
درېږي. بوبیره د ارسپاهي د شور دځان راغور ځولو
آواز اوري، نا بېره تګلان څوري او په وار-
خطا یې او وېرې سره ځي او هغه پل سپاهي خبر وي
او بیا د وار په ښارنه او لټه لاس پورې کوي.
خو ګا که هم د وخته سلا وه تیاره نیولې ده دا

د کاکه شیر خاصه ده چې د توپك جګړه یې نه خوښېږي. هغه عقیده لري چې د توپك په جګړه کې میړانه او ناریښتوب نه ښکاریږي. ان دغه شي ويشتل د کاکه شیر نه خوښېږي، ځکه داهم له لري، ويشتل کيږي. کاکه شیر ته د توپك جګړه د نامردی جګړه ښکاري او همدا سبب دی چې د هغه ټولې وسلې همداسې د لاس او ګريوان جګړې د پاره دي. ان همدا اوس هم چې په بالا حصار راختلی، هم ټولې همداسې وسلې لکه پېش-قبضه، توره او سيلاوه ورسره دي.

سپاهيان لا هم د غير د معلوم لو په لټه کې سرګر-دانه دي، چې پدې کې ناڅاپه يوه محافظ کاکه شير ته پام کيږي او څه چيغه پرې کوي، شير پوهيږي چې هغه پرې نګی دی، نو تر څو سپاهی ځان خوزوي، شير په يوه ځيز پرې حمله کوي او په خپلې سيلاوې يې سر له بدنه جلا کوي او تر ژبې لاندې وايي:

ACKU

- پرنګیه خوږه ! ته څنګه دا ټه د زمرو په ځالو کې
ځپې سپا کوې . . . ؟؟

د دی کیش و کرپ په ا و ر یډ و سر ه به ښه‌و دوه اتنه ټور ګزمه سپا هیا ن هم د یوې ځای ته ځا نو نه رار سوی او پرنګی سپاهی به اسې حال کې په خا ورو ا ووینو کې په شتیډ ووښی چې سر یې لکه د زرد کې په ځیر ترې قلم شوی وی . شیر دیوه دیواله خوا ته په تیارې کې تیارو لاړ دی، چې پدې کې اوری له دې دواړ و څخه هم یو تن پرنګی دی خو بل یې کابلی او افغانی سپاهی دی . د شیر په زړه کې څه جوش او د وطن پالنې جذبه راپار یږی او دا وار پرته تردې چې هغوی دی‌و ویښی خپل وار برې ړومبی کوی او په پرنګی سپاهی د اسې د سیلاو ې پر له پسې ګوزار و نه کو ی چې په د ر یم ګوزا ر هغه له پښو غو رځو ی او له دې سره سم چې افغانی سپاهی غو ا ړ ی په شیردز ه و کړی، د د شیر دا ګواښ یې سر تر پایه لړ ز و ی چې :

-پام گوره دزه ونه کړی . . . زه پر نگیان وژنم
چې زما اوسنا دواړه دښمنان دی . . . چې نا بللی زما
او ستا په کور راغلی . . . ته نو څنگه په یوه خوږ
پرنگی ما وژنې ، خو که چیرته ته دخاورې نوکر نه
اود هغو نوکرېې ، نو بیا را ته سمه ووایه . . زه
حاضریم چې له تا سره یې هم همدلته معلومه کړم .
زلمی سپاهی دشیر پدې خبرې احساساتی او هیجانی کیږی
او په زهر ده کاکه شیر ته و وایی :
-پام چې ما ته به د پرنگیو نوکر نه وایې! زه دخپلې خاورې
نوکر یم، خو څه وکړم چې اوس به دې جیل کې اسیر
شوی یم . . . زه پخپله د هغوی وینو ته تږی یم اوچې
دا سې ده ، نو . . . اوس ته له دې ځایه ولاړشه . .
هغوی دې نه سی، چیرته ځان پټ کړه . . . چې هر څه

کیږی، کیږی به، څو ته څه! . . . و ژنی دې . ! !

څو کاکه ښهر په تیټ آواز او جدی لهجې سپاهی ته وا یی :

- څه ته په ماېسې مه گرځه . . . ته ولاړ شه !

کابلی سپاهی چې له عجب وضعیت سره مخامخ شوی، سخت وارخطا دی، بیا هم د کاکه ښهر د ویناجذبه هغه مجبور وی او په بېړه یو ډول ترهیدلی اوو ارخطا ر وانیږی . ښهر هم دد یوا له سره ورو او تماروته ځان مخامخ هغې ودا نی ته رسوی، چې هلته دا میر د خوب ځای دی . سیخ په زینو پورته کیږی او دهغې خونې د هلیز ته ځان وررسوی چې هلته امیر یعقوب خان ویده دی، د دهلیز په سر کې دهغه خاص حاضر باش هسې چې پر یوې پستې څوکۍ

ناست دی او تکیه یې کړې ده. څو زنډ سر خوب دغه ستر ګي ور پټې کړې دي. د دهلیز په سر او های کې دوه روښانه مشا لونه لګیږي او دهلیز سر تر سره یو څه روښا نوی. شیر سیلا وه بیر ته تر ملا څړ وی او پیش قبضه له تیکي راباسی، ښې لوځوی، پر مخ ځی او بیا ورو، ورو دغې کوټې دروازه خلاصوی، چې دامیر دخوب کوټې ته بله دروازه لري. شیرداد روازه هم ورو خلاصوی او له نیم کښې دروازې څخه دامیر دخوب کوټه او دغې کوټې کونجونه ښه له نظره تیر وی په کوټه کې کراره کرا رېږده.

یعقوب خان دخپلې میر مني سره څه لږ څه پټ په خواږه خوب ویده دی، ښځې یو نری وریښمین او ږد کمیس چې منځه یې سر تر سره لکه چینه خلا صه ده او ښکلې هوس پارونکی اندامونه او سپین صورت یې ترې اوچته ښکاری اغوستی او لاد ځان له دیر و بر خو څخه یې دا نازکه کمیس.

هم لري شوی، داسې ایسي چې هغې دې له امیر سره تر ډېره عیاشۍ او مستۍ کړې وي او بیا دې خوب وړې وي. د خوني په یوه کنج کې یو ښکلې فانوس له پیکه او ضعیفې رڼا سره کوټه یو څه روښانوی.

د ښځې د لوښ لپاره ځان او بې سره ته لوېدو په لېدلو سره د شېر له ستر ګو اوښکې الوزي، نو تر څه مخکې هغه تل یقه چې د هغې تر پښو لاندې سرور ل شوی پر ته ده، را اخلی او پر ښځې یې او اروي. خو امېر هسې پر مخې پروت دی او د باچاهۍ پر تخت بې غمه خوب او ده خوبونه کوي. کاکه شېر هم نور در نګ نه کوی. یو و اروړو، ورو د تخت ګرد چاپېره ګرځي، خو په د بري خوا شېږی و یني چې په تخت کې یو دا نه غمی هم نشته.

اکه اریان پاته کېږي چې اوس نو څه وکړي، یو ځل بیا د تخت څنډې او شاو خوا ښه له نظره تېروی، خو په دې کې بې

ACKU

یو ناڅاپه د تخت خواته پر یوه میز باندې ددوو ګیلاسو نوتر
خوا دېنځې ګانه تر سترګو کوزې، چې ښایی له ویده کېدو
مخکې یې ایستلې او هلته یې ایښې وی. نو دغو خوا ته
ور غی او چې له هغو څخه د سرو زرو یوه ښکلې غاړکۍ راپورته
کوی، که ګوری چې څو دانې د برغکې سره پر ښښه لعلونه
پرې لګول شوی، چې د فانوس رڼا ته لکه ستوری ځلېږی.
یو ځل یې زړه غواړی چې غاړکۍ په جیب کې وا چوی، خو
د ستی یې دا خبره په زړه ور ګرځی چې هغه خو غلا ته ندی راغلی
بلکه یوازې غواړی څو دانې غمی بوځی، نو د ځپلې پیش-
قبضې په تیرې څوکې باندې د غمیو په را شکولو پیل کوی.
څلور غمی ترې را وباسی او چې کله غواړی بل غمی هم ترې
را وشکوی، ناڅاپه یې غاړکۍ پر ګیلاسو نو باندې له لاسه
لوېږی او د هر زنګ او پرنګ له آوازسره یې امېر هم
ناڅاپه ټکان خوری، را وېښېږی او سر راپورته کوی
او چې کله یې ستر ګې په کاکه شېر لګېږی

نو سم د مېچل ځای کېني . خو مخکې تر دې چې څه ووايي

او يا چاته غږ وکړي نو كاكه شېر خپله پېش قبضه ور ته سموي

او بيا نو په زغرده خو تېټ آواز ورته وايي :

ـ پام يعقو به چې لاس له پښو خطا نه کړې او آواز دې

پورته نه شي که نه نو سر به دې قلم کړم . زه هغه څوک

يم چې په لسهاوو رڅې مې په تا د بندي په توګه پېره کړې

پوه شوې !؟ شېر يم شېر . . كاكه شير اد !!

امير مسا بنده ډله کېږي ، نو هسې چې توره ور په پېره يې له ژ ني

سره د زياتې وېرې او وارخطايي له امله رېږدي او دواړه

سترګې يې شېر ته پرندې پاته دي پرې پرې وايي :

ـ ته . . . ته ، غل يې ! ؟

خو كاكه شېر چې لكه د زمري په څېر په ډېرو يار دغه

سر پورې پېش قبضه په لاس ولاړ دی ، ځواب ورکوي :

ـ نه یعقوبه ! ... زه غل نه یم زه په خپله دا نو غمیو پسې راغلی وم ، هغه مې و ایستل خو ما لا ان هغه غاړ کی و اته ـ خسته چې دا غمی مې ترې را وشکول . . . له ما نه دا غمی د پاچا د کور غمی چا غوښتی دی ، نو دا چې په هره بیه او هر ډنګه چې کېده ما ور ته پرا برول او دادی اوس مې تر لاسه کړل .

دا ښایسته غمی یوازې د کاکه شیر د محبوبې د غاړ کی وړدی . خوزه یوازې په غمیو پسې هم نه یم راغلی ما له هغه سودې را هیسې غوښتل چې تا و گورم . . تا چې زموږ په ملك او پلرنی خاورې له پرنګیانو سره سودا بازی کړیده . ته په دې پوه شه چې زه هم دا اوس هم کولی شم چې ستا له تېره غلطیو ل سازکړم او د ملامتیا له دې شرموونکی ژوندانه څخه دې بې غمه کړم چې ته یې د پرنګیانو په مېوړی کې کوی . . . خو نه زه

خو ارم چې يوه ورځ نه يوه ورځ تا به تورمخ دخلکو په وړاندې د ځواب ويلو له پاره د ريدلی ووينم، ځکه نوستاد ناولې وينې په تو يولو څپل لاسونه نه ککړوم .. خو گوره يعقوبخانه! نورزه درنه ځم مگر پام چې څه خطری کارته لاس ورنه وړی او که نه نو بيا به رانه په هيڅ قسم خلاص نشی.

د يعقوبخان نور زبون وهل شوی، گنگ او کلی، سخت ويريدلی او راوتاپ ستر گې کاکه شيرته بر ندې برندې گوری. خو کاکه شير په همدې خبرې هسې چې د بری په علامې د نری موسکا څپه يې پرشونډو کينی، دهغه له کوټی راوځی او دروازې په هغه پسې تړی. که گوری چې شاو-خوا سخت شوراوزوږ دی، ان دومره چې دامير صاحب خاص حاضر باش هم ويښ شوی او د حال دمعلو مولو له پاره بنکته شويدی.

کاکه شير پدې باوری کيږی چې ټول پر نگيان او دهغوی تالی څټی پرې خبر شوی او په هغه پسې گرځی، مگر هومره بې پروانه کوی، ځمله توره داوارله ملار اخلا-صوی او په احتياط دير ورو، ورودد يوالونو تيارو ته له

دې ځای څخه ښکته کېږي. خو سم له دې سره چې غواړي بېرته د بالا حصار د ډبرين د يواله يو سم ځای ته ځان ورسوي، نو يو تن پرنګی سپاهي هغه ويني او په هغه پسې لالها-نده سپاهيانو ته يې د نيولو ناره کوي او پدې کې له هرې خوا څو تنه سپاهيان پر کاکه شېر يرغل وروړي، د يو تن او څو تنو ترمنځ سخت اخ و ډب نښلي خو کاکه شېر داسې توري وهي، چې هلو پر هر يوه مرګولي ګوزارونه کوي داسې چې په درنګ شېبې کې يې څو لاشونه تر پښو لاندې لوېږي. سپاهيان پر کاکه شېر هم سخت ګوزارونه کوي، خو مګر کاکه شېر ته داسې واره تېږوله، تپ نه ښکاري او له اصله ور ته څه پام لرنه هم نه کوي.

چيغې او شور ماشور جوړېږي او په پای کې څو تنه سرتېري هغه رانيسي وسلې يې ترې اخلي او په کشولو سره غواړي هغه چېرته بوزي. خو د بالا حصار پر دارالسلطنې د کاکه شېر ورختل او يرغل لکه د ډېرې قوي زلزلې په توګه ټول بالا حصار لړزولی، ان دو سره چې کمنارې يې هم له خوبه راپاڅولي او بهر ته راوتلي دي. او سپاهيان هم د هغه له امره سره سم کاکه شېر هغه ته ور ولي. لکه داچې هغه

پخپله سپاهیانو ته ددې بېیا که زړور افغان د نیولو امر کړی وی . کمناري او نور لوړ رتبه پرنګیان پر ته له شه پوه-ښتنې دا منی او باور کوی چې د اباتور محلمی د کابل د خلکو په ملی مقاومت پوری تړلی مجاهد دی، خو هغوی ټول دې ته سخت حیران دی چې هغه څنګه په یوه سر په یوې دارالسلطنې یرغل راوړی او دولته یې د پرنګیانو په وژلو لاس پورې کړیدی .

کمناري په خوبو لوستر گو یو ځل کاکه شېرسر تر پایه د مشال رڼا ته په له نظره تېر وی ، کمناري ته رپوټ ور کړ شوی چې کاکه شیر ملی مجاهد دی او چې هر ډول شوی د بالاحصار له دېواله رااوښتی او په ایکت یو ځان یې او ته تنه پرنګیان وژلی او درې تنه نور پرنګیان یې له دوو تنو افغانی سپاهیانو سره سخت ټپیان کړیدی. کمناري هسې چې او یې دې شېبې هغه ته ارندې برندې گوری، څه شېبه ترې نه را-څوړی. هغه هم دې ته حیران دی چې کاکه شېر ان دیوه توپک یا څه بلې تودې وسلې له درلودلو پرته څنګه دومره پرنګیان وژلی او ټپی کړیدی، خو په زړه کې کمناري پخپله هم چې کاکه شیر ته، مخامخ ولاړدی، د شیر د میړنی او

هیښتنا کي څیري پیدا او له هغه څخه یو ډول ترهه کوی او ویریږی، نو ترجمان ته وایی، چي له هغه ځخه یو پښتنه وکړی چي دا څه دپاره راغلی؟

کاکه شېر په ډېرو یاړ او ږې پورته اچوی او په هسکي غاړې او جذبې سره وایی :

- زه دې ته راغلی یم چي تاسو پرنګیانو او ستاسو نوکرانو ته دا روښانه کړم چي نور نو د افغانانو ستاسو په راتلو خبر شوي دي او نور که ستاسو تاسو سره په زړانه میند ان حساب کوی. ساده د خلکو پیغام راوړ-یدی. هو! موږ د ښمن ناخبره نه وو هو تاسو یې دادی خبر!! په دې خبرو د کمشنر ری له څوري هم رنګ تښتی او په زړه یې لړزه پریوځی، نو ترجمان ته وایی چي هغه ته ووایی ته به رښتیا هم ډېر تور زن یی، خو راشه له ملی سجا-هد ...ینو سره همکاری پریږده او دلته زموږ د یوه غټ منصب او په حیث در تبې او مقام خاوند شه!

موږ به تا ته هر هغه څه چي غواړی درکړو . . . ستا داد نن څخه توره او کار روایی زما سخته خوښه شوه . . .

او له دې پس به یو څه مکر جنی خندا زیاتوی :

ACKU

پرنګیان کله له خپلو دښمنانو سره داسې دوستانه چلند هم کولی شي . خو کله چې ترجمان د اخبري کاګه شهزاده ته ترجمه کوي، نو هغه کټ کټ خاندي او وايي :

ـ په دې داده اوسه چې هیڅ ریښتینی افغان به ستاسو د مړینې او بخښنې غاړې ته وانه چوي . تاسو زموږ پر ملک یرغل کړی او لکه چې اخوله دې وویل اوس یو د بل دښمنان یو . . .

موږ تاسې له خپلې پاکې خاورې څخه هر څنګه چې کیږي لکه چې په زور راغلي یئ همداسې په زور بیرته شړواو تر هغو به مو تاسې پر ضد له خپلو مبارزو لاس وانخلو چې لکه د پخوانیو جګړو په څیر مو نیم ژواندي بیرته خپلو ملکو نوته ونه لیږو !!

کله چې ترجمان د ګاکه شهزاده خبرې کټ مټ ری ته ترجمه کوي ، نو د هغه وچولي وارتر واره لا زیاتې ګونځې راوړي او سپینې ګردې چشمې يې په پوزې راښوئیږي . هغه پوهیږي چې دی هم له هغو کسانو او سپارزښو څخه دی ، چې ژوندي پاته کیدل يې کیداي شي د انګريزانو له پاره د پر سر خوږې پیدا کړي ، ځکه هغه ورسره لاره نه وړي او له خپلې خبرې نه اوړي .

سره ددې چې په دې خبرو د کمنا ري زړه ډېر سخت
کاکه شیر ته پخسېږي، خو بیا هم ګوره چې ده له پاره او
د کوم سیاست له مخې، د بالاحصار د امنیې قوماندان
ته وایي چې هغه اوس په هغې بندیخانې کې چې په بالاحصار کې
بېر نوې جوړه شوې او څو تنه نور افغانان هم هلته بند-
یان دي بندي کړي. خو ترجمان لا د کمناري خبرې نه وې
ترجمه کړې چې کمناري په ډېره بېړه د خپل ګارد له دوو
برچکو سپاهیانو سره د هغو انګرېزي عسکرو لیدلو ته ورغی
چې د کاکه شیر له خوا تپي یا وژل شوي دي .

نژدې سپېده چاود مهال دی، د سباوون سره هوا چلېږي
چرګان آذانونه کوي او په لرې اتقونو کې یو خفیفه
رڼا ورو ورو پر آسمان راخورېږي، دوه تنه پرنګي
توپک والا، برچولک سپاهیانو کاکه شیر د زندان په لور
خوځولی دی، خو له بالا حصاره د وتلو پس یوې ورې
کوڅې ته له رسېدو سره سم کاکه شیر یو ناڅاپه او نا بېره
پر یو سپاهي حمله کوي او له خوبولي انګرېزي سپاهي
څخه په یوځېز توپک اخلي او څو چې هغه بل ځان خوځوي
نو کاکه شیر له توپکه د سوټې د کار په اخستلو سره

هغه داسې په ټټر وهی چې ټوپک ترې لوېږی .
پرنګی سپاهیان چې د ټوپکو په لاسه ور ګولو سره خپل مرګ حتمی ګڼی، نو دوه خپلې او دوه پردی سخ په بالا حصار ننبتی او کاکه شېر تر یوه ځایه هغوی پسې منځکې کوی ، بیا ناځا په کېښېنی، په یوې ګوښې کېږی ، یو ټوپک رااخلی او د پرنګی سپاهیانو په لور نیښه نیسې ، او چې پدې کې نا بېره په منډو منډو کې یو د هغو نه یو محل تر شا ګوری ، نو داسې وېره پې پسې اخلې چې ته به وایی ، کاکه شېر په هغوی پاندې د ډزې ګولو له پاره نښه نیولې وی.
خو کاکه شېر تر ډېرو ټوپک هم پسې نیسی ، د اد هغه عادت دی چې دښمن په ټوپک نه ولی ، دا کاکه شېر ته نامردی ښکاری او چې وینی هغوی ښه لری شول ، نو په هوایی ډزې پسې کوی ، د بالاحصار د دروازې محافظین هم خوپر - له پسې ډزې کوی ، د ډزو آوازونه د سپاوون مهال په چوپتیا کې په ټول ښار کې انګازې خپروی خو د ډزو له غلی - کېدو سره سم د نږدې جومات ملا د سبا د لمانځه له پاره آذان کوی او کاکه شېر په داسې حال کې چې پر شا دواړو مړوندو نواو ښې وزانه پاندې ځوځونه اخستی

او لیکی لښکی توده وینه ترې بهېدی ، ځان جوماتته رسوی او ورننه وځی . توپك گو ښې يوې خواېږدي او بيانو په داسې ډېغمه زړه لکه چې هيڅ نه وی شوی ، خپل زخمونه پټولې پګړی سره تړی ، اودس کوی او ډېره ميړه غازی په توگه له نورو مسلمانانو سره يو ځای د خدای په حضور درېږی او دوه رکعته شکرانه نفل هم ادا کوی . له دعا نه پس له صفه را ولاړېږی ، خلکو ته ځان ورپېژنی او هغوی ته تېر شوی حال وايی او دې زوعلت ور ته څرگندوی ، پدې کې ملاصاحب داسلام او افغانانو ډېری او د کفا رو او پرنگيانو د ماتې له پاره دعا کوی او بيا نو تول لمونځ کوونکې د کاکه شير تر شاو خوا راتاوېږی ، ځينې يې په غېږ کې نيسی ، څوك يې مخ ښکلوی ، څوك مبارکی ور ته وايی او ځينې هم شاباسونه ور کوی ، دوه درې تنه نور خپل ځانونه ور کوی چې په يې له ځانه تاو کړی ، توپك ملاصاحب ته په جومات کې پرېږدی او هغه يې هم په يوه سم ځای کې پټوی . په همدې جومات کې مولوی صاحب دوه تنو ته وظيفه ور کوی چې په احتياط سره ولاړ شی او د کاکه شير آس

دهغه گورته ورسوی . بیا نو کا کا ه شیر دمولوی صاحب
اونورو مشرانو او سپین ږیرو له یوې لویې ډلې سره له
جوماتنه راووځی. که گوری چې پرنگي سپاهیان د تلاشی
له پاره راوتلی دی اوټولې لارې یې نیولې دی . خو کله
چې هغوی ویني چې له جوماته راووتل، نوبې له تلاشی
څخه صرف نظر کوی . کا که شیر ددې مېړانې له امله
اود مشرانو او سپین ږیرو ددرنښت اوله هغوی سره د
خبرو کولو له پاره هغوی ته ډالنه ور کوی اوهغوی هم په
ډیری خوشحالی دسبا ناری کولو له پاره د هغه میلمانه
کیږی . کاکه شیرله هغوی سره د پرنګیانو په وړاندې
دجهاد په باب اوږدې خبرې اوله هغوی سره یولړ کلې
پریکړې کوی ، سره ددې چې زړه یې دامیر دغمیو
دراوړلوپه خاطر له ډیرې خوښی ټوپکې وهی اود بری
خوندا وخوښی دټپونو در د ترې هېروی .

*** ***

له پرنګیانو سره د کاکه شیر د توری اوجګړې او
په یوه ځان دهغوی له بسته پوځ سره دمقابلې اوبری
کیسې د کابل دزیاتو خلکو خولو ته لویدلی ، ان دملی

مجاهدینو تنظیمونه هم پرې خبر شوي او ځکه نو تر دې
وروسته کوم کسان چې د کاکه شېر له دې تورې خبرېږي
هغه ته د کاکه غازي خطاب کوي . او که هغه هم دادی
پوره پوه او نی له دې پېښو څخه تېره شوې ده، خو لا هم د
کاکه غازي د مېړانې کیسې د ورځې له ډېرو تودو خبرو
څخه دي. خو پښتو له کاکه شېر پخه زړه او بې پروا پخپل
دوکان کې ناست دی او لا هم د لښتې د چمکلي په
اندېښنه کې دی چې اوس د لمو د پر ښنده
څېړو په لګېدو لوېره څو چنده زیات له پخوا نه کمې شوې ده.

لوی ماسپښین دی، خو نن له هغه سبارا هیڅ پولې
څمسوراو په زړه پورې یادلګېدی او دغو تو تو د ر من
درمن سپینو سر گردانه وریځو سیوري کله کله د لمر
تودوخه پوخه کموي . کاکه شېر په چمکلي خوله وروستی
خواري هم کړې ده، خو لا هم داده نه دی چې آیا هغه به د
کوچۍ لښتې خوښه شي او که نه . . . نو هغې چې چمکلي
بې پلاس نیولی ، هغه ښایسته گل ته ورښکاره وي او
ترې پوښتي :

ښایسته گله ! اوس نو رښتیا ووایه چې چمکلي څنګه

شوه ؟. . . له بوهېدم چې لا به هم د کوچې پېغلې خوښه شي او که نه ! ؟ . . . نن بې ئېته ده . . . پسې به راشي . . .

خو مخکې تردې چې ښایسته گل څه و وایي، د شعر مېز کې د کوشې په لرو برخو کې په هم هغې مستې مغرورې کوچې لښتې لگېدې چې داو ارله بوې بلې بودی کوچې پېغلې او بوه پنځه شپږ گلان ماشوم سره په ډېر ناز او نخرو دمغه دد وکان خوا ته راروان ده . کاکه شېر ته د ښه عجوبې او نا بېره خوښۍ احساس پیدا کېږي ، لکه چې کوم دېر قیمتي شی یې موندلی وي، لکه چې په زړه کې یې دېوه پسرلي گلان راټول کړېدلی وي او ټري باغچې په نازناز نخوی او دعطرو دکې وږمې یې د کاکه شېر زړه او د ماغ تازه کوي . لښته دمغه دو کان ته را رسېږي خو بیا هم هسې پلو نېولې ، مگر په خندنی خیرې او خوښی سره دد وکان ترمخې دربېږي ، خو مخکې تردې چې څه ووایي ، کاکه شېر په ډېر شوق او په موسېدلې بڼې هغې ته و وایی :

ـ لښتې استړې مه شې ... په خېر خورا شلی! ؟. .

لښته له ډېرې حيا پر ښېښنده تورې ناڅې دا رې
سترګې څه شېبه ښکته اچوي او هسې چې پرتنکيو ګلانې
شونډو يې يوه خوږه موسکا غوړېږي وايي :

ـخوار مه شې . . . د چمکاڼي ورلو ېسې راغلم . . .
او بيا د کاکه شېر دداوړني له پاره زياتوي :

دا بوډۍ مې نيا ده . . . په غوږ ونو څه شي نه اوري
او د اوړکي سې هم کشرى او زور دی بوڅه ليون تر ها
غونډ ې دی، بدې کې بو وار د پلو له څنډې غلچکي
کاکه شېر ته سترګې وراړوي ، او د هغه مېړني څېره
او جذابه په څه له نظره تېروي ، او بيا نو په ګراره او په
خاص ناز او مسکېز سره شېر ته وايي :

ـ رښتيا زرګره ! . . . زما نوم دې له کومه زده که؟

شېر ته حيا دربېږي او هسې چې موسکی کېږي،
سترګې تېټې اچوي ، خو مغرور لښته څپل پلو بو څه
د ستر ګوله مخې پر ته کوي او څه شېبه په غلاغلاخو په
مېڼه مېڼه شېر ته ګوري او بيا په موسکا سره ورته وايي:

ـ خو ګوره که د چا د نامه زده کول ، څه ښه کاروي،
نو زما هم ستا نوم زده دی څې کاکه شېر زرګر

نو ښیري ... تازه موږ په چم ګاو ته کې ډیر خلك پېژني
. . . ان زما مور هم خوشحاله ده تا ته ګاڼې اخیستې دي
هم داغوږ والۍ مې هم ورته ستا له دې دوه ګاڼه اخستي
د پېغلې د دې خوږو خبرو په اوریدو سره چې
کاکا شېر ته لکه د بلبلو د ږغ او چغېدو په څېر خوندور
اوازونه ښکاره نکي ایسي ، شېر ته د کوچې پېغلې له
مزه ناکو خبرو نه پس دا لوېږی او له دې سره
د هغه په زړه د خوښی یو . پله څپه راواوړی
او دا سې انګېري چې کوچی پېغله هم له هغه سره
دیاراني خیال لري . له ډیرې خوښۍ بې موسکا پر
شونډو غوړیږی او لښتې ته وایې چې د د وکان د قفسې
ترڅنګ پر تختې کېني ، او لښته هم لکه د اچې هغه دې
ست خوښتلو ته ستر ګې په لاره وه ، هسې بې پروا په خپل
اوږده تېکري کې ځان ښه رانغاړی او پلو نیولی د
قفسې ترڅوا پر تختې کښېني . بوډۍ کوچی هم چې ډېره
ستړې ماندې شوې وه ، د دوکان ترڅوا د بوالۍ ته ډډه
لګوی او ماشوم هلك هم لکه چې نوی ښار ته راغلی وی
کله دې ځای ، کله هغه ځای ، کله دده خولې او کله
هم د هغه خولې ته حیران ، حیران ګوری او پخپله بې هم هر څه

ته خوله خلاصه پاته کیږی . پدې کې کا که شیر

چمکلی را پورته کوی او یو ډول زړه نازړه هغه ته

دوا ړو لا سونو پلو نیولی کوچی پیغلی ته ور وړاندې

کوی او سره ددې چې نه پوهیږی کوچی لښته به یې خوښ

کړی او که نه ، بیا هم په یو ډول خوښی او ویاړ

سره ورته وایی :

ـ دادی لکه چې ویلی دې و ، دا میر صاحب د تخت غمی

خولا ده چې د هغه د سر منې دغاړ کی غمی مې هم را وړل

او پدې چمکلی کې مې در ته کېښول . . خو لاهم

دا ده نه یم . . نه پوهیږم چې ستا به خوښ شی او که

نه ! ؟

د ښکلی چمکلی سره بر یښند غمی د لښتې ملالې ستر گې

بریښوی ، سخت بې خوښیږی نو هسې چې په ډیر شوق

چمکلی د شیر له لا سه اخلی په یوځه بې باوری شه ورته

وایی :

ـ ته رښتیا وایې زرگره ! ؟ دا دا میر صاحب د

سر منې دغاړ کی غمی دی ؟

کاکه شیر دهغې دډاډ له پاره ور ته د غمیو د راوړو کیسه کوی او د خپل ښی لاس د هغه یو ټپ نښې پخپل سر و ندیاندې ور ښکاروی چې اوس یې ور ته په رغیدو وی . لښه هسې چې چمکلی یې لاپه لاس کې ده دخپل او یې داو تور تیکری له پلوه کله کاکه شیر او کله د هغه د سرو ند ټپ ته گوری . او یې دې شوبې له ډیرې اریا نتیا څلی پاته کیږی او یې دالکه داچې دشیر میړانه د هغې هم سخته خوښه شوی وی او پرې ویاړی په موسیدلو شو لڅو شیر ته وایی :

- زرگره! ته په رښتیا هم چې د زمری زړه لری . . . تر زمری لا هم زړه ور یې !

پردې خبرې یې بیا هم دواړه سره خاندی ، خولکه داچې شیر لا هم ډاډه نه دی چې آیا داچمکلی به په رښتیا د پیریښتې کوچی لښتې خوښه شی او که نه ، نو تری پوښتنه کوی:

- خوداو، یه چې خوښ به دې شی لاکنه . . . زه خو دا سې گنم چې که هرڅه وی بیا به هم ستا د دې ښکلی صورت وړنه وی . . . تا لره هسې گڼه ښایی

چې ته پسې ښايسته شې . . . خو مګر دا ځمکلي به پوازې هغه وخت را ته ښکلې ښکاره شي چې ستا په مرمرينې سينې وځلېږي .

هغوی دواړه بیاهم سره ځانډي ، خو لږه شېبه پس همسې چې د پلوله ځنې شیر ته ځیر ځیر ګوري په خاص ملکیزتري پوښتنه کوي :

- زرګره ! ستا په دې دوکان کې خو به دومره او به وي چې وي غواړم . . . تېرې يم .

شير يو ځل په دوکان کې آخوا دېخوا ګوري هغه هماغه شيبه مخکې خپلو دوو وړو شاګردانو ته څه سودا اخستې وه او هغوی يې کورته وليږل ، نو په يو ډول آمرانه نظر ښايسته ګل ته ګوري ، خو لکه چې ښايسته ګل هم په هغه ي پوه رمازه پوه شوی وی ، نو راپاځيږي کوږ ږی ، را اخلي او همې چې له دوکانه په ښکته کېږدو ، د وه درې واره په غلا او تر سترګو لاندې د لښتې حسين مخ او جادوګر وسترګو ته ګوري ، ځکه چې له پورته چوماته لښتې ته تازه اوسرې او بهراوړي . لښتې او ګا که شیر ته د زړه دخواله کولو پاره

څه فرصت بر ابر بېرې او لکه داچې نور نوڅه زحمت
نه وی ، دواړه اوږدې شیبې په موسیدلو ښو یو بل ته
گوری ، خو شیر لکه چې ډېره شیبه دپلو لهځنلې دلښتې
دجادوگرو سترگو خوږو خوږو کتلو ته تاب نه شی را وړی
او ځما ، و ر ته در پدلې وی ، څه شیبه سر ټیټ اچوی .
خو لښته له پخوا نه د شپږ ښکلې او مېړ نی ځیر ې
ته په مینه مینه گو ر ی ، خلا اېږ وچې داشیبه په د
کوچی ایر پښتې په زړه کې څه ور گر ځی ، دهغې زړه به
څه تر ې غواړی خو لکه چې نو ر نشی کولی او یانه
غواړی ، څوله مینه دشېر د سردانه اوزړه راښکونکې
ښکلې څېرې تراغېږې لاندې ترې پټه کړی بیا هم اوږدې
شیبې شېر ته گوری او داسې ورته په ځیر ځیر گوری چې
ته به وایی په همدې کتو کتو کې له شېر سره د خوږې
مینې او گډ خوشحاله ژوله مز ودك ژوندانه خیالو نه
او انځورو نه یې دملالو سترگو په وړاندې تجسم موسی
ا و گو ره چې دا یوه اوني به یې څه چرتونه د ځانه
سر ه وهلي وي . لښته که څه هم چې وینی بودی نیا یې
کله نا کله تر سترگو لاندې د هغې ځاو نه کوی، خو

په دې زړه ډاډه کوی چې هغه څه نه اوري او ماښام وروږ خو بې په هیڅ نه پوهېږي. خو د کا که شېر د مېنې بند يو ان زړه هم زور طاقت نشي راوړي، انډاسې ور ته ايسي چې که هر څه کيږي، ان څوك بې په دې حال وينې هم، خو چې يوه شېبه په ماړه نس د دې نرۍ څوله ګلو ډکې ابنتې، ددې بيا بانې ښا پير ی او کوچنۍ پير ښتې پيغلې د ېدنو کړی. د ده هم په زړه کې ډېر څه ګرځي، خو ګوره چې دا ښتې د څير څير کتلو سره هغې ته خنداورځي او پوښتي يې:

-زر ګره ځنګه داسې په څير څير راته ګورې . . .

مېن شوی خو به يې ! ؟ . هغه څه ښه وا يې څې . . .

ښنګه په څير څير راته ګورې - لکه څې نن دې په ما خوار مېنه راځينه بدې پوښتنې د شير په زړه کې ده ميلاو ارمانو څوتی ګلان سوری داسې کښې چې د ی په ژوند کې دلوسري ځل له پاره له داسې پښتنې کو چې سره سخا مخ شوی دې چې تر ده ډيره زيا ته زړوره ده، هغې ښنګه وکړای شول دا د زړه خبره په همدې ماده کې په خوله وا وړی، ښکاره ده چې تر کا که شير هم زيا ته زړه ور ته اوجرئت لری.

ښايي کاکه شير چې نشو کولی دا خبره ورته وکړي او د هغې له خولې د همدې خبرې د اوريدو په تلوسه کې وه، په زړه يې نا ببره خوا ږه وو ريدل، لکه چې د اصحنه په خوب کې ويني ، کاکه شير هم سل زړونه يو کوی، په مزې مزې او ورو ، ورو کوچی لښتې ته وايي :

— مين شه چې .. جادو گر و ستر گو دې ليو نی کړی يم لښتې ! ستا د دې تورو بيا د امی ښر پېښند . ستر گو کتو ته د زمري زړه هم نشي ټينګيدی. . تا پخپل دې نازاين حسن سره په ما څه سخت جادو کړل چې ستا تر هغه يو ځل ليد لوړمن بيا تراوسه نه خوب لرم او نه مې آرامی شته . ا

حيا نا که لښته ستر گې ښکته اچوی ، د هغې په زړه کې هم ډير خواږه خيالو نه سر را پورته کوی ، خودا مهال د کاکه شير په زړه کې ناڅاپه څه ور ګرځی او لښتې ته وايي :

— ربښتيا لښتې ! واده او کو ژده دې شو ی ؟

خو لښته چې له هغه لومړی سره ښايي د زړ ګرشير

د مینه نا کو کتو په مطلب ښه پوه شوی ، هسې چې خاندی ، سر خوزوی او پلو نیو لې وایی :

ـ نه نه ! تورېده او وا ده خولا پرېږده څې لا د چا په نامه شوی هم نه یم ... د کاکه شهر په زړه کې یوې ستړې هیلې ته د رسید و ډاډ رېښې ځغلوی او له زړا تې خوښی څخه داسې احساسوی چې جاسې بې ورکې تنګې شوی .

خو لښته په یو څه شکمن زړه زیا توی :

ـ مونږ مالداره کوچیان یو ... پلار مې سلو خان ډېرې پیسې او شته لری ، خو دې ته زړه نه ښه کوی چې ما دې چا ته ور کړی ... هسې خو ډېرو خلکو غوښتې یم ...

خو شهر لکه چې د هغې سره ټوکې کوی په یو څه جدی لهجې ورته وایی :

ـ خو که زه دې له پلاره وغواړم !؟

لښته نا بېره سر را پو ر ته کوی کټ وهی او خاندی ، خو ژر خوله له خندا نیسی او هسې چې پر ندې پر ندې شهر ته ګوری یو څه چُرتی کېږی ، څه اندېښنه ور لوېږی او زړه نا زړه ډېره شیبه پلې خوا

ګوري، د دې پوښتنې په ځواب نه پوهېږي. ښايي هغې ته هم په ټول ژوند کې دا ډېره سخته پوښتنه ښکاري. خو چې کاکه شېر ورته ټينګېږي، نو لښته له يوه ساړه اسويلي سره ورته وايي:

- خدای پوه شه ... نصيب او قسمت خپل کار کوي.

کاکه شېر يو څه ټکنی کېږي، مګر بېرته بيا يې د يوې امېد وارونکې خوښۍ څپه پر زړه را ولوېږي او له لښتې پوښتنه کوي:

- ښکلې لښتې! ودې نه ويلې چې چېر ته موا ږولې دي؟

لښته اوږده شېبه شېر ته په شکمنو سترګو ګوري لکه چې څه د وېرې احساس يې کړی وي، نو له يوې شېبې چوپتيا پس ورته وايي:

- د بابا د آسيا غونډۍ په لمنه کې مو مېنې دي..

هو د خپلو ته نږدې پراته يو ...

ښايسته ګل بېرته راځي او په کوزړي کې راوړي اوبه لښتې ته ور کوي او پخپله د وکان ته پورته کېږي چې د اوبو د څښلو جام هغې ته ور کړي، خو که

گوري چې هغه کوزې پرسر پوړنه کوي. هغوی
لا ښایي په جام کې دا و بوله ښښلو سره نه دي آشنا
شوي ښایسته گل پخپل ځای کښېښي او بیر ته پخپل کار
سر ښکته کوي، خو کاکه شیر داسې په ځیر ځیر
لښتې ته گوري چې ته به وایې د هغې په صراحي
غاړې کې داوبو هرغړپ لکه د مرغلرو دانې ښه یري
او یو ځل بیا د کوچی لښتې د بې مثاله آسماني ښکلا
په سین کې لاهو کیږي، لښته داو بوله ښښلو وروسته
شکر کوي او کوزړې کاکه شیر ته ور کوي
بیا نو چمکلی را اخلي او شیر ته وایي:
- ښه زرگره! زه نو ځم ... د چمکلي ماسې سې دې
په دې د ستمال کېږو ته کړې دي... دا دروا خله
بیگا مې تولې په آبا شه یرلي دي.. پوره دي!
کاکه شیر خاندي او لښتې ته وایي:
- د دې چمکلي بیه ډېره جگه ده ... ځکه چې هغه
مې ستا لپاره جوړه کړي ... بیه یې پدې روپیو نه
پوره کیږي ... نو پیسې دې وسا ته، بل څه شی
به بیا واخلې خو گوره ... که خدای کول نو

څلور پنځه ورځې پس ضرور ستاسو کوږدېو ته درځم او له پلاره سره دې گورم ... بیا نو که وشوه هلته به دې وگورم .

د لبنتې پر تنکېدو باڼو گانو له حیا نه سره خاصه غوړېږي او هغې چې پاڅېږي گاکه شېر ته په ډاډ یېنې سره وایي :

- بوغمه راځه ... موږ کوچیان د سهلمنو ډېر خیال ساتو ...

لبنته په وچ زور گاکه شېر ته د چمکلې پیسې ورکوي او د پیسو پر ځای چمکلې په دستمال کې تا ووی.. خو گاکه شېر له د پیسو په غم کې دی او نه یې چمکلې ته هم پام دی ، یوازې د لبنتې په ژر پاڅېدو سخته تلوسه و رځی. لبنته ور سره په سینه مینه خو یو ډول ژورې خوا شینی سره ښه کوی او له خپلې یوډ ې نیا او واړه ورور سره د هغه له دوکانه روانېږي ، گاکه شېر هم تر هغو چې لبنته په اوږدې او له گڼې گونې ډکې کوڅې کې په نظر ورځې پسې گوري، خو چې یې له سترگو پناه کېږي .

* * *          * * *

لوړ او زده کړدي، خونړۍ او زړه تازه کوونکې باد چلېږي او د هوا تودوخه کموي. کاکه شېر پخپل سپين خيالي آس سپور دی او ورو، ورو د باد آسياغو نډي په لوړ پر مخ ځي. د هغه په زړه کې راز را زاندېښنو سخت توپان جوړ کړی دی. په تېرو بيا تر هر څه زيات هغه ليك کاکه شېر زيات چرتي کړی چې همدا نن له غزني څخه د جنرال محمد جان خان وردك له خوا ورته را رسېدلی دی او په هغه کې يې ورته ليکلي دي: «د زړه سره غازي کاکه شېرخانه!

له لوی خدايه دې روغ جوړ او بريالی غواړم. موږ چې دلته د پرنګيانو پر ضد ملي جهاد له پاره چمتو والی نيسو ستاله هغو توروا و مېړانو څخه په ډېري خوښۍ سره خبر شوو چې د هغوی په نتيجه کې دې لويه غزا کړې او زيات شمېر پرنګيان دې سر دار کړي دي... موږ د ملي جهاد مشران ستا د لوړ همت او افغاني هيواد پالنې او مېړانې ستاينه او د وطن پالنې په لاره کې ستا د لا زيات بريالیتوب هيله کوو او له تا غواړو چې د حاجي صاحب خير الدين خان کوهدامني سره يوځای د خپلې سيمې او چم ګاونډ په وطن او خپلواکۍ مين خلکو سره را ټول او د عمومي قيام د پيل کولو له پاره

و روستی پریکړې ته ستر ګې په لاره اوسی. خدای دې مل شه.

دغازی محمدجان خان وردك له خوا. »

د کاکه شیر اندیښنه له دې ده چې ښارانو د هغه په اوږو درونډ وطنی مسوولیت ایښی او پر هغه یې غټ اعتبار کړی دی. مګر کاکه شیر چې د هیواد پالنې او رېې په رګ رګ کې وینې را تو دوی د دې لوی مسوولیت د سر ته رسولو له پاره ځان پوره چمتو ګڼی. کاکه شیر ښایی د اوار له ځلیما نو سره د جګړې په ډګر کې خپله میړانه وآزمویې فکر کوي چې دې کار ته غاړه ایښودل ورته هومره درونډ کار نه دی او اوس هم په هغه دې داډ په دې لوری راخوزیدلی دی چې فکر کوی دا کار یې په وسې پوره دی او که خدای کول نو د ملی او وطنی دنده به هم په سر ښندنې او له ځانه تیریدلو سره په ښه توګه سر ته ورسوی خو کاکه شیر دادی په پوهو له څپ څپا نده حالت او شکمن زړه دلښتې دوی د کیږدیو په لور روان دی او کله نا کله یې لا دا خبره هم په زړه ورګرځی چې که ښکلې لښته خدای د هغه په نصیب کړی، بیا نو که اندناولیو پرنګیانو سره په غزا کې مړ هم شی، نو ارمان به یې په زړه نه وی پاته. نو هسې چې د ځانه سره د رازراز چرتونو او خیالونو په تال کې

زانګی، د مسو روپا غونو، شنو کرو ندو، سپېرو
ړاګونو او ځای ځای د ځینو کورونو، کلاګانو ترخوا
تېره شوی او پرده لاره لنډوی او چې بوختو نو رهم پرمخ ځی
نو له لیرې بې په دوې ارتې دښتې کې د کوچیانو بې شمیره
تورې ولاړې کېږدی ترسترګو کېږی چې له شاوخوا
ځنځه بې کله کله د سپو، وزو، غواګانو او آن سپیو
آوازو نه راځی. ځینې کوچی ښځې او ماشومان او پېغو
نوم نارینه د کېږدیو شاو خوا ته ایسته رااېسته کېږی
خو زیاتره نارینه د خپلو کېږدیو سیورو ته
ناست دی .

لښته هم همدا څو شېبې یخکې د ماسپښین له پره
خوابه او خیالی خوبځخه بې خیاله راویښه شوی، او دمی
بې کړی او دما ز دیګر دلما نځه له ادا کولو پس بې دادی
دلوی خدای در بار ته لاسو نه پورته کړی او دعا
کوی. خدا زده چې هغه به پخپلې دې اوږ دې دعا کې
له پاك خدا یه څه غوالری او څه هیله به کوی. خو سم
له دې سره چې لاسونه پورته کوی، نو له لرې بې په
پوه ناآشنا سپاره سترګې لګېږی . هغه سپور چې د نګه

ACKU

او غوښوره ونه، نري سپین کالي او چرمه کاري واسکټ
یې له توري پګړۍ سره هغه لا زیات ښایسته ښکاروی
او د پګړۍ لوړه شمله یې ورو، ورو نري باد ته رپېږی.
خود سپاره وړه توره ډېره او نري چنګک چنګک برېتونه
په دې باب دلښتې له زړه ایستې شك لرې کوی چې دا
راغلی ناآشنا سپور دې کاکه شېر زرګر وی. نوغلی
یو ماشوم ور لېږی چې له نا آشنا سپاره د پوښتې چې څه
غواړی؟ خو په لښتې هم عجب حال راځی، هم د شېر زرګر
د لید واوراتلو له امله هم خوشحاله ده، هم یې په زړه
ډېر ډول ویرې څپې اوړی راوړی او هم یې دا اندې
ښنه زړه سره زېښی چې کاکه شېر به څه وکړی
او سلو کاکا د لښتې پلار به هغه ته څه ځواب ورکړی،

کاکه شېر کېږد بوته څېرمه له آسه ښکته کېږی
د ماشوم سره، ورو، ورو څه وایی، بیا نو راځی او د سلو
کاکا د لوبې کېږدی ترخوا خپل آس دروی او په خپله
د ماشوم سره سخامخ هغې کېږدی ته ورځی چې هلته سلو
کاکا ناځا ته ناست دی او خدازده چې څه چرتونه وهی
او د ځانه سره څه کړی او څه ربړی.

البته لا هسې چې له جای نماز څخه نه ده را پاڅېدلی
تر سترګو لاندې قدم په قدم په کاکه شمر پسې ګوري.
بیا نو را پاڅېږي او په داسې حال کې چې زړه یې لکه پاڼه
رپېږي او راز راز اندېښنو یې په زړه کې کور ابې کړي
کړي، داسې یو ډول بې واره او ارخطاده چې نه
پوهېږي څه وکړي. نه ناسته خوندور کوي او نه ولاړه
ته به وا یې چې ځمکه یې تر پښو لاندې سور اور
ګرځېدلی ده.

یو ځل هم څه بهانه کوي او د خپل پلار د کېږدۍ خوا ته
ورځي او هسې چې ځان نا انګاره اچوي د خپل پلار او شمر
د مرکو او خبرو اترو ګونګوسه اوري، خو سم نه پوهېږي
چې هغوی څه سره وایي. په دې کې ملو کاکا میلمه ته د
تروو د راوړو له پاره غږ کوي خو د البته د چې تر هر
چا مخکې له مستو د که کټوه را اخلي او غوړ پلان پېروي
یې په یوه شېبه کې او چوي او د یوه واره په لاس یې
ور کوي چې له یوې کوهستانۍ پیالې سره یې میلمه
ته وروړي.

ACKU

بیا هم اوږدې او درنې شپې تېرېږي ، لمر ورو ورو دلیری غرونو دلړی ترشا ډوبیږي او له ختیځ څخه د تورې غړې لمنه ورو، ورو پر شنه ونه آسمان راخپرېږي. پدې کې ناڅاپه دلښتې په زړه کې څه ورګرځي نو د معمول سره سم پاڅېږي او دلوپې کېږدی ترخوا چېرته چې د کاکه شیر سپین خیالی آس ولاړدی دمیږو پهلوشلو لاس پورې کوی. خو لا ډېره شیبه نه وی تېره چې د کوچیانو دمیږو، وزو او غواګانو درمبار و په شور ماشور کې له لیرو کلیو څخه د ماښام د آذان غږونه راځي او سم له دې سره کاکه شیر هم دلښتې له پلاره سره له کېږدی راوځي او بوله پله سره سره مخه ښه کوی. بیلو کاکا ځای پرځای خپل څادر غوړوی او دماښام په لمانځه دریږی او شیر هم دخپل آس خواته راځي . لښته د کاکه شیر پهلیدو هسې چې د بوې میږې غولانځ له ډېرې جذبې او هیجان څخه دامې سره سرو ړی چې دمیږې رمباړې خوږی اوچې وینې پلار یې پرلمانځه دریدلی او کاکه شیر غواړی پر آس سپورشي ، نوناڅېره یو ځل هغه خواسخ اړوی ، هدو[غواړی چې کاکه شیر ته ځان

وروښتې . دلښتې په لیدو دکا که شیر په ستر ګو سره بنګړه لوېږي ، ګوره چې په زړه کې بهې څه تیرېږي ځایې هم داوسېږي ځل له پاره دنا امید یوپه ډول درد یې دستوني لاره نیسې . او کله چې غواړي پښپل آس پښه واړوي ، په کر اره یوازې هغه وسره امښتې ته وایې :

ـ امښتې! . . . آبادې نه راضي کېږي . . . مګر ته دوسره وکړه چې بل سپادلمر خاته په سهال یوځل ترهغې پورې چېنې راشه ... هلته به سره وګورو ... اوله دې سره «خدای پا مان» وایې او پر آس پښه اړوي . د ماښام په دې تورې خړې کې دسپاره ښایسته اومېړني څېره ، له سپینو جامو او شمله دار ې پګړې سره لښتې ته هغه خوږ او ښایسته خوب ښکاري چې په ویښه او خلاصو سترګو یې وینې او هسې چې لا یې هم لاسو نه د مېړې غولانځ سروړې ، څه شېبه کا که شېر ته ځېر کېږي او چې سم د هغه آس پښه اخلې نو لښتې اېله د سر په خوزولو سره هغه ته دور تلو ډاډ ور کوي ، خو ددې له پاره چې څوک پرې بدګما نه نه شي ، نو له شیدو ډ که پاتلچه را اخلې او کېږدې ته ننه وځي . زړه یې لاهم ناکراره دی ، خو

چې لښته بېرته له کېږدۍ راوځي ، نو بيا زېږه يې لرې
د شير د چابك آس د څخستو دوړه وينۍ چې ورو ، ورو
د لوېديځ له توري غرې سره حل کېږي . څو نور چې هر
څو ګوري نو له توري غرې او زياتيدونکې تعارې پرته
بې هيڅ شی نه تر سترګو کېږي .

***　　　　***

غرمه نژدې ده ، نن له سهاره کاکه شير همدلته د
تخته پل د جامع جومات د لوی سالون د دروازې ترخوا د خپل
بوا زيني زوی بېرك د فاتحې په کلمه ناست دی د کاکه شير
نژدې څلوېښت پنځرس تنو خپلو خپلو انوا آشنا يانو هم
د مبارك جومات د يواله ته ډډه لګولې او ناست دی د قاری
قرائت ته يې غوږ نيولی دی . چې کله دعا وشی نو ټول
لاسونه پورته کړی او بيا په اشارو او تر سترګو لاندې
کاکه شير ته د تسليت په توګه وګوري ، لاس په سينې
کېږدی او د سر په اشارې هغه ته داد ګير نه ورکړي
بيا نو خوتنه پاڅېږي او کاکه شير يې مخې ته ولاړ يږي
او د هغو له خوا خوږې او غم شريکې څخه منته کوي .
کاکه شير هغه کوي چې د خپل پردي ، بيالانو او دوستانو

په وړاندې ځان يو ډول بې تو بره وښيي او داسې هغوی ته څرګنده کړی چې د زوی په مړينه يې چنداني چرت ندی خراب، خو په زړه یې يو خدای خبر دی او د غمو نو سيلاو ونه يې څپې وهي، ان دومره چې کله نا کله زنېږه د ژورو او ترخو خواشينيو ليکې يې ان پر ځيرې دم راښکاره شي، خو سګرژوی يې ځان ته پام اوړی او په يو ډول د زړه له سره موسکا سره غواړي نورو ته خوله ښه غوړېدلې او بې توپيره وښيي. آخر پرون همدا مهال هغه خپل ډېر ګلالی او د زړه ټوټه زوی، بېرته چې پرون سهار له بامه د ناڅاپي را لوېدو له امله مړ شو خاورو ته سپارلی و. ټيک په هم هغې ورځې چې کاکه شېر له لښتې سره د بيا ليد ووعده کړې وه. د لښتې د ليدو تلوسه، ان په دې سختو غمجنو شېبو او ځوروونکو ترخو انديښنو کې هم د هغه زړه سخت سره زېښې او دا چرت ورلوېږي چې آيا لښته به هلته راغلې وي؟ . . . ضرور به راغلې وي ! . . خو مره به يې د کاکه شېر راتلو ته انتظار ايستلی وي او بيا به بېرته په څومره خواشينۍ او مات زړه ستنه شوې وي . هغه به څومره د کاکه شېر په سېنې اووښا

ACKU

شگفته شوی وی او دا لوی غم به یې څنگه زغملی وی . . . ؟

خو یوازې کله چې قاری صاحب دعا کوی ، نود کاکه شیر ددې تشو او خوړونکو خیالو نو او اندیښنو سلسله سره شلیږی .

غرمه وارتر واره رانږدې کېږی او جومات ته دلمانځه ور کوونکو تگ راتگ کمېږی ، او یوه شیبه په جومات کې چوپتیا خوره یږی ، یوازې د جومات د انگړ د توتو په یوې ښاخ کې د ناستو چوغکو زړه راښکونکی او خو شحالوونکی ریز یدې درنه چوپتیا کې د څه شیبې لپاره په مزې غوږو نو ته نوازش ور کوی .

له دې چوپتیا او فرصت نه په استفادې ځینې کسان یو د بل سره په غوږو ونو کې پس پس کوی او ځینې هم په ټیټ آوا ز او د سر او لا س په اشا ر و یو د بله سره د حال احوال پوښتنه کوی .

په دې کې د دې سیمې مشرا و سپین ږیری حاجی صاحب خیر الدین خان چې ټول خلکو رته زیات احترام او درناوی لری او کاکه شیر هم هغه له ځپل سکه تره څه کم

نه پوهېږي، ځان کاکه شهر ته ور وړاندې کوي او غواړي څه ور سره ووايي. حاجي صاحب چې له پوا زې د کاکه شهر د کلا تر خوا کوز لاړی او د هغه ګاونډی با له شي، بلکه د څه شان په چته کې هم د کاکه شیر دوکان ته نژدې د لنګۍ او قرصو خولیو د پلورلو دوکان لري. هغه د کاکه شیر د پلار حاجي زار-دست خان پښتواني او خوږ ملګری و، هغوی به تل یو د بل دوکان ته تلل راتلل، زیاتره وختو نه به یې د غرمې ډوډۍ هم سره یو ځای خوړه. یو ځای او یوه جومات ته به د لمانځه د ادا کولو له پاره تلل او ان هغوی دواړه څو کاله مخکې یو ځای حج او مکې مدینې مبارکې ته هم تللي وو، او داسې حاجي صاحب کاکه شیر ته تر هر بل چا او خپل خپلوانو نژدې ښکاري او د خپل خیراو شر په معاملو کې یې شریک ګڼي او د مشر په توګه هغه په خپل هر کار او معامله کې مخکې کوي. حاجي صاحب پرون او نن داسې د کاکه شیر د زوی د سرینې په مراسمو کې برخه اخستې لکه چې د هغه

ACKU

خپل اولاد مړوي .. پدې کې حاجي صاحب چې سپږنه
پاچهګړی یې پر سر او پر سپینو کالیو او تور واسکټ
پاندې یې خپل نخو دی رنګه ښکلی ښادر را تاو
کړی، د کاکه شور په ګوندې لاس پردی او ور و
ور وو رته وایی:

ـ ښېرجانه! پاک خدای دې اجر ونه درکړي
خو خدای په رضا کې هېڅ ویل نه دي په کار . . .

را به شو دې ته چې پدې دوه ورځو کې چې موږ د ببرک
جان په مړینې او فاتحې کې مشغول وو، نو د ملي
قیام له پاره د تیاري نو لو غږ شوی او د مشرانو
هدایت راغلی دی. پرون شپه چې ګلمه کور ته ولاړم
نو سهور زا مر فراز خان کاکا راته تو له کیسه
وکړه. همدا پرون افغاني سپاهیانو هم لو یې غونډې
کړې او حرکت یې پیل کړی دی.

هغوی د تنخوا د ځنډېدو په بهانې سپه سالار
داود شاه خان ته ورغلي، خو هغه ورته ویلي چې داد
پر زنګیانو کار دی او موږ څه واک اختیار نه لرو
نو هغه وچې ناراضه سپاهیان پر بالا حصار ور وختل

انګرېزانو د هغوی د اکار د ملي قیام د پیل کولو په توګه ګڼلی، د بېرېښند یان کړی او لا ګوره چې څو به یې وژلي وي، پرون چې کله د بېرك جان له جنازې پرته را ستانه شو، نو هغه د دزو غبرونو ته خو دې پام واو که نه ؟

تولې د پرنګي سپاهیانو دزې وې. خوافغانی سپاهیانو هم هغوی ته ورځواب ور کړی دی او څو پرنګیان یې وژلي دي. نو ځکه مجاهدو مشرانو د اپرېکړه کړې چې سبا ته به د کابل ټول خلك د پرنګیانو پرضد خپل ملي قیام او جهاد د پیل کوي... نو دا ده چې ته مې هم خبر کړې، چې سبا ته به ځان تیار وې . . . ځکه چې تا ته خو غازي خان «محمد ـ جان خان وردګ» هم احوال را لېږلی و . . . ما هم نا څه د کار ترتیبات نه ولی او ټول کو څه وال ځامن او خلك هم مې خبر کړي . . . هیله خدای ته ده چې و کړای شو، په دې برحق جهاد د او غزا کې پرنګیانو ته ماتې ور کړو او هغوی ته یو ځل بیا پښتواني سبق ور په یاد کړو.

دکا که شیر په زړه پوری ای خبر دی، خود حاجي صاحب
دا خبري د هغه په زړه کې څه نوی اور لګوی، او په
، ګرګه کې یې وینه راتودوی ، د اسې چې ټولې اندېښنې
ئې هېروي، دغازي خان هغه غوښتنه ور په زړه کېږي چې په
لیک کې یې ده ته څرګنده کړې وه، زړه ته یې لوېږي چې
مه کړه له سبا لا نو هغه پر ته پاتې شوي وي، خو ژر یې د حاجي
صاحب خبره په زړه را ګرځي چې قیام خو د خیره
سره سبا پیل کېږي ، نو تر اوسه لا څه نه دی شوی او
لا د کار پیل دی. کا که شېر د حاجي صاحب د وینا
هر کلی کوی، خو چې کله غواړي له هغه څخه په دې
باب نورې څه پوښتنې وکړي، چې اوری قاری صاحب
د فاتحې د خلاصېدو له پاره او د قرائت پیل کوی .
ټول حاضرین غلي کېږي او د پاک الله د کلام اوریدو او
در ناوی ته سر ونه ټیټوی . په پای کې قاری صاحب
دخپلې دوعا په لړ کې هم سبا ته د جهاد له پاره د تیاري
په خاطر حاضرین خبروی او هکاره د پر ټګیا نو پر ضد
د افغان خلکو د دې برحق جهاد د بریالي کېدو له پاره
دعا کوی او له پاک خدای څخه غواړي چې په دې

لاړه کې دغوی سرستندوی شی ، حاضرینتول د زړه په سینه او اخلاص ددې دعا دقبلیدوله پاره لاس پورته کوی او بیا را پاڅیږی چې د کا که شیر سره یوځای دغه‌دزوی په څیر اخ کې د گډون کولوله پاره دغه کورته ولاړ شی .

***　　***

دمنۍ ورستی شپې ورځې دی ، هوا په تېره بیا دشپې له لوری ډېره سړه شوېده خو همدا چې په څو ماتو نوکې دسباآذانو نه کیږی ، نو په‌ټول ښار کې‌دراښا ریدلو او د پر نګیا نو پرضد د را پاڅید لوافغا نا نودیو نا پایه اوهیبتنا که شوراوزوږ تاریې اوانګازې‌دکابل ښارپه سره هواکې داسې تودوخه راولی چې‌هیڅو نور څوك په سړو اوتو دو پسې نه ګرځی . کا که شیر چې لا مخکې تردې یې ځان تیاراوپه و سلو سمبال کړی دی پس له دې چې د خولې‌سور لاسونه یکلاوی‌اوخدای پامانی ترې اخلی له کوره وځی . که گوری چې ټن په‌ټول ښار ، په ټولو کو څوا و لا ر و لو زو کې د خلکو ، دملی مجا هدینو ډېره سخته ګڼه ګونه ده .

اوچې څو قدمه وړاندې ځي ، نو که ګوري چې حاجي خير-
الدين ګاګا لا تردې دمخه راوتلی او د څلور پنځو تنو
نو ر و مجاهدو زلميو سره روان دی ، ګاګه شير هم تر
هغو پورې ځان ور رسوی او له هغوی سره يو ځای کيږی.
برغليز چريکي ګروپونه په هرې کوڅې اوهرې سيمې
کې بېل بېل سره تنظيم او جوړ شوی او بيا نو د ملي
مشرانو تر بوې واحدې قوماندې او د مشخصو هدايتونو
سره سم په ټول کابل کې د پرچميانو پر تهانو
مورچو، داستوګنځايونو او تم ځايونو باندې حمله
وروړی. په ټول ښار کې د «الله اکبر!» او «يا چهار يار!!»
داسې پرجوشه ناری انګازې اچوی چې پرچميانو
لکه د توپ ګولی لګيږی او د هغوی په زړو او غږ و د
مرګ ونې وېرې تبه او لړزه راولی. حاجي صاحب
خير الدين د څلور پنځو سو تنو مجاهدو زلميو سره د ننه
ترې چې په دويم خط کې پر بالاحصار باندې يرغل
وروړی ، ځو ګاکه شهر چې په بالاحصار کې
ښه بلد دی ، نو د حاجي صاحب تر نظر لاندې بڅوله د
ګروپ د حملې قومانده په غاړه اخلی او ورو ، ورو

ځانونه د لومړي ليکې مجاهدينو ته ورسوي او د «الله اکبر!» په له جوشه ډکو نارو د هغو ودانيو په خوا چې هلته انګريزي سفير «کمناري» او د هغه ملګريان د افغانانو د تمام د مقابلې له پاره سره راټول شوي، مخه کوي.

کمناري د ملي مجاهدينو د هغو نا پايه بهيرونو په ليدلو چې د بالا حصار په خوا راد روسي، سخت وارخطا کيږي، هغه هيڅ کله داسې نه وه ګڼلې چې افغانان دې داسې ژر او په دومره زيات قوت سره د هغوی پرضد قيام وکړای شي، خو اوس چې کار له کاره تېر دی؛ نو «کمناري» سخت پښېمانه دی چې کاشکې يې ژر دې د مخه نور پوځونه راغوښتي وای، خو اوس يې ټولو هيلو او اميدونو له زړه کښه کړی ده.

هغه ځان د باتورو افغانانو مخکښې ته لوېدلی احساسوي، سخته ويره يې پسې اخلي چې څه په ورسره وکړي. خو «کمناري» لا هم سې په همدې انديښنو کې ډوب او په ريږديدلو پښو د خپلو منصبدارانو او پوځيانو ترمنځ ولاړ دی چې يو تن منصبدار يې ورته احوال راوړي چې د ملي مجاهدينو د لې ډېره لوی ټوبان په ټوکه په

بالا حصار ړ ړ ا ننه و تلې او هیڅ یو ننګی پهغم ژوندی پرې نه ږدی .

د «کمناری» زړه لوېږی او پدې یې باور راځی چې افغانان به هیڅ یو غلګر ننګی ژوندی پرې نه ږدی .

نو خپلو سپاهیانو ته امر کوی چې د قیام کوو نکو افغانانو وژنې وکړ ی .

سپاهیان په وژنو لاس پورې کوی، خو ننه افغان مجاهدین په شهادت رسوی او خه شمیر نور هم ټپی کو ی .

خودتو پکو د وژونو پرله پسې غږونه په هیڅ تو ګه نشی کولای ، چې د خلکو د (الله اکبر !) او(یاچهاریار ! ) آوازونه غلی او خپه کړ ی .

«کمناری» ته پوا احوال ورو ړی ، او ان هغه پخپله هم وینی چې د افغان آزادی غوښتو نکو مجاهدینو پهدر لکه د زور سیلاو چې په ځورو څېږی پر با لا حصار راروان دی او دلته دی چې « کمناری » پخپل قطعی مرګ باوه کیږی ، نو خپلې څوکې ته ورننه وځی او مخکې تردې چې د ا فغان مجاهدینو لاس ته ولو یږی ، خپلې کوټې ته اوررور ته کوی او د اشان ځان د لمبو ته . ته سپاری .

د کاکه شېر گروپ په داسې حال کې چې تر سبا ماښامه دوه تنه پکې د شهادت جام ونه څښی، خو پدې بریالی کېږی چې د دې په مقابل کې (۱۲۱) تنه پرنگی پوځیان مردار کړی. دا گروپ سربېره پردې د دښمن د سلاح کوټونو او د هغوی د مهماتو د ډیپو گانو په نیولو سره زیات بریالیتوب په برخه گټی ، نو د قیام مشران په دویمه ورځ کاکه شېر ته د سلو تنو پرغلیزو مجاهدو د لوېې ډلې قومانده په لاس ور کوی او هغه ته د دې جهادی ډلې د قوماندانۍ ویاړ ور بخښی. په دې کې د «کیوناری» او د هغه د ډلې ټولې د له منځه تللو خبر انگریزانو ته رسېږی . نو په دې شرموونکې ماتې باندې په خبرېدو سره په ډېر غضب او شدت سره پراخ عسکری سوقیات کوی ، په افغانی پولو را اوړی او زموږ په وطن یو پراخ تېری پیل کېږی. د پرنگیانو پوستر پوځ د جنرال (را بر تس) «چې خلکو وروسته هغه ته له ډېرې کرکې رابټ کل وویلې» په مشرۍ د کرمې له لارې لوگر ته راځی او بیا له هغه ځایه د یو شمېر ځان غوښتونکو او مزدور صفتو سردارانو په مرسته او د سردار

ولي محمد چې ورو سته بیا خلکو ور ته په ډیری
کړ کې د (لاتي) خطاب کاوه په مستقیمې همکاری
د چهار آسیاب له لارې په کابل بریل راوړی
او پس له سختو مقاومتو نو او زیاتو ځاني تلفاتو
څخه کابل څه ناڅه تر کنترول لاندې راولی .
د یعقوب خان په کابل کې دا انګرېزې دې نوی
پوځ په رارسید و بیو ځل بیا د مه غږیږی. خو په
ډیری بې ننګی سره ځان هغوی ته تسلیموی او
د هغوی د مرئیتوب رسی په غاړه کې اچوی .
مګر خلک خپلو حملو ته په انګرېزانو او انګرېزی
پوځونو دوام ورکوی او په هره او هر مورځ
کې هغوی ته زیات تلفات وراړوی ، ځکه نو
پر نګیان پر ته له دې چې د کابل په ښار کې عام
قتل پیل کړی ، بله هیڅ چاره نه وینی. سره د دې
هم ملی مجاهدین چې او س ورځ تر ورځې زیات
داطرافو نو خلک هم ور سره یو ځای کیږی د کابل
زمرین ژمی په پر نګیانو لکه د سره اور لمبې هسې
په تاو اوکړ او سره تیر وی . څه موده پس

، مستر سی مشر جنرال محمد جان خان وردک چې
خلکو په له زیاتې مینې ورته «غازي خان» ویلې
کابل ته راغی. د کابل هیواد پاله سرتیري او
ملي مجاهدین ددې غازي د مشرانو په مشوره تنظیم
او جهاد ته چمتو کړي. څو ورځې پس د «قلعه قاضی»
په سیمه کې د افغان مجاهدینو او انګریزي پوځو
تر منځ لویه خونړۍ جګړه پېښه شوې چې د هغې په
لړ کې د ښار نګیالو پیاوړي او منظم پوځونه له
راز راز وسلو سره د ملي مجاهدینو په وړاندې
ماته کړي. «غازي خان» د کابل د مجاهدینو
له مشرانو سره وینې او له هغو سره د ښار نګیالو په
وړاندې د جهاد د بریالي سرته رسولو په باب
هر اړخیزه خبرې او سلامشورې کوي او د محاذونو
د قوماندانانو سره د لیدنې کتنې په لړ کې، کله
که شیر هم له هغه سره د مخامخ لیدنې ویاړ مومي
او هسې چې اورېدې شوې د هغه د ژوندلي د بریالیو
عملیاتو څخه ډېره خوښي کوي، هغه په جهاد کې
لا زیاتې سرښندنې او تلوالی ته هڅوي او د خپلو

خائنو عناصرو په باب هغه ته ځانګړې دندې سپاري. غازي خان د اڅان د کابل د قوام له مشرانو سره، له خیبر وکولو او له هغوی سره د ګډو تصمیمونو له نیولو وروسته د وردګو او غزني خواته خوزیږي چې هلته هم ملي مجاهدین د پرنګیانو په وړاندې تنظیم او رهبري کړي. له بل پلوه د انګریزانو بل لښکر د جنرال (ستوارت) تر مشرۍ لاندې کندهار ته راځي او دا ښار له کومې لویې جګړې پرته نیسي. بل انګریزي پوځ هم د جنرال (رایټ) په مشرۍ د خیبر له درې څخه په په تېرېدو د جلال آباد ښار تر خپلې قبضې لاندې راولي.

پرنګي جنرال چې پوځ یې په کابل قبضه کړی او فکر کوي چې افغانان به نور د هغه په وړاندې مقاومت ونشي کړای، نو له کابل او د هغه له خلکو څخه د خپلو شرموونکو ماتو په کسات اخیستلو لاس پورې کوي، هغوی د کابل ناسي او ښکلی بالاحصار ورانوي

او اور ورته اچوی ، د کابل مشهور ره چار چته په
توپو نو نولی او ورا نوی یې اوله دې مره سم د کابل
ښاریانو او په تمره بیا ناریته وو په علم قتل لاس پورې کوی
د پرنګیانو سپاهیان د کابل ښار په بازار و نو او کوڅو
کې ګرځي اوله هر چا څخه پوښتنه کوی چې غازی
یې ؟ نو که هغه ورته هو! ووایی سمدلاسه یې وژنی.
پرنګی سپاهیان په هغو کسانو چې ګومان کوی د مللی
مجاهدينو څخه به وی ، بې پوښتنې هم وژنې کوی .

په کابل سخت ژمی تیریږی. خودا ساړه هیڅکله
هم د مللی مجاهدينو جوش او تودوخه د جهاد له پاره
نشی سړولی . ورو ، ورو یو ډیر ښکلی پسرلی رارسیږی
او په ښو غرو کې واورې او یخونه ویلی کیږی او
داوبو د کې نری لښتې هرې خوا ته بهیدو راځی
د خواجه صفا او شهدای صالحین د غرو ډډې دا ر غوان
ګلونو په بخمل پټیږی او بوځل بیاد پرنګیانو په
وړاندې د جهاد کولو له پاره د کابل خلک نوی ساه
اخلی او په لا زیات شور او بیا وړی زور خپل
مقاومت ته او پر پرنګیانو باندې یرغل ته پراخوی .

کاکه شیر اوس د کابل د ډیرو ښو او هیوادپالو ځوانانو او ان یو شمیر نورو کاکه گانو په گډون دیوه پیاوړی معمار بوی ډلې مشري په غاړه لري . اوس نو دوستان او آشنایان هغه ته کاکه غازی او غازی شیر خان وایی ، پدې کې ملی مشر او نامتو مجاهد ملا مشك عالم اندړ کاکه غازی او نور مجاهد مشران نور غواړي او هغوی ته د ملی قیام د پیل کولو په باب هدایتونه ورکوی او پخپله غزنی ته ځی او هلته له محمد جان خان وردك سره یوځای کیږی او د مجاهدو غازیانو له یوه لوی پوځ سره بیرته شیخ آباد ته راځی. د مجاهدینو دا پوځ بیا هم په قلعه ء قاضی کې د ، جنرال را برتس) له پوځونو سره مخامخ کیږی خو دا وار ملی مجاهدین په ډیرې میړانې سره پرنگیانو ته داسې ماتې ورکوی چې هغوی د تیښتې لاره ترې ورکیږی . یوازې دومره چې ځینې نوکر صفته عناصر له خلکو سره په ټگی کولو ( جنرال رابرتس ) او د هغه له پاته محدود پوځ سره دومره مرسته کوی چې د شېرپور کلاته پناه یوسی او هلته ځانونه زندانی کړی .

دا سرسته که څه هم په پټه سرته رسېږي ، خو مجاهد
سرتېري هغه کشفوي ، نو د قيام مشران فيصله کوي
چې د کابل ښار د مجاهد و ګروپ دې د لاس پوڅي سردار
ولي محمد لاتي ګور ته او روا چوي او مال دې تالا
کړي ، دا ماموريت هم سرته رسېږي، خو پخپله مزدور
سردار تښتي او د پرنګيانو چهاونۍ ته پناه وړي .

د کابل خلك بيا هم په هره سيمه او ان هره کوڅه
کې په پرغليزو ډلو کې سره تنظيم ګېږي او د قيام
اوله پرنګيانو سره د مخامخ جګړې له پاره تياري نيسي.
ورو ، ورو د کابل ښار له څلور وخواوو محاصره
کوي ، وار خطا شوي انګريزان چې دا حال ويني
نوله دوه تنو نورو مرتجعو سردارانو نوبا چاخان او
محمد شاه خان سرخابي سره اړيکې ټينګوي او هغوی
ته څرګندوي چې که تاسو عمومي حملې له پيل
کېدو څخه مخنيوی وکړ ، نو يو صندوق سره زر
به در کړل شي . دا خيانت د دې سبب کېږي چې
په ټاکلې ورځ د قيام په پيل کو لو کې ځنډ پېښ شي
ولاس پوڅي سرداران کوم د سرو زرو صندوق چې ددې په بدله

کې له منافقو او حیله گرو پرنگیانو څخه ترلاسه کوی هغه هم ټول له تېرو او کو درو څخه ډک وی چې پر سرېږې سازی د سرو زرو په شان پانې ایښودل شوې وی. له دې فرصت څخه په استفادې پرنگی پوځونه یوځل بیا د ښار حاکمه سیمې ننوسی او له هغو څخه پر ملی مجاهدینو او خلکو پاندې برید کوی او بېدریغه گولی پرې اوروی. خو ملی پوځونه خپل زړور مقاومت ته دوام ورکوی. داشان جگړې او مقاومتونه اوږدې موده روان وی، ځو چې یوځل بیا ملی مشران د ملی مجاهدو شاه زلمو زړه ور پوځونه تنظیموی او د انگریزانو په وړاندې ډېر ستر قیام پیل کوی چې د هغې په لړ کې افغان مجاهدین له انگریزانو څخه خپل پوره پوره کسات نه اخلی او هغوی ته ډېر سخت او نه جبیره کیدونکی ځانی او مالی تاوانونه اړوی او خبره دې ته رسیږی چې پرنگیان د خپل خلاصون له پاره له افغان خلکو سره خوا خوږی او ښه چلند پر مخ و نیسی او له خلکو سره ژبه وکړی چې ډېر ژر به له افغانستان څخه ووځي. دوازې دومره چې دا یې یو څوک پیدا شی چې

دافغانستان اداره په لاس کې واخلي. ددې د پاره مناسب سړی سردار عبدالرحمان خان وګڼي، نو هغه راغواړي. عبدالرحمانخان څه موده پس پداسې حال کې چې لاهم دافغانانو او پرنګیانو تر منځ دلته او هلته خونړۍ جګړې رواني وې، کابل ته راځي او د خپل امارت اعلان کوي. انګرېزان دهغه امارت په رسمیت پېژني او فیصله کوي چې له افغانستان څخه ووځي. خوشنګه چې د کندهار ښار لا د هغوی په لاس کې وی نو په ډېرې بې شرمۍ له امیر څخه غوښتنه کوي چې کندهار بلوچستان او د پښتنو قبایلو سیمې دې انګریزانو ته ورپرې ښودل شي، امیر ظاهراً له هغوی سره موافقه کوي، مګر ستر هیواد پاله مجاهد سردار محمد ایوب خان چې تر دې مهاله دې په هرات کې دافغانانو یو ډېر لوی پوځ جوړ کړی، پر کندهار حمله کوي او دمیوند په دښته کې ددواړو خواوو تر منځ ډېره لویه او تاریخي جګړه پېښېږي چې د هغې په نتیجه کې پرنګیان ماته خوري او قطعي ژمنه کوي چې انګرېزي لښکرې به ډېر ژر له افغانستان څخه ووځي. پدې

ACKU

تو که افغان سېړ ني او هېوا د پا له خلك يو ځل بيا انگريزي يرغلگرو ته ثابته وي چې هغوی تر خپلې وروستۍ سلګۍ هم چې وی له هر يرغلگر سره مقابله کوی او تر هغو آرام نه کيني چې خپل دښمنان يې په تور مخ له خپل وطن څخه نه وي شړلي او د اشان د افغان او انگريز تر منځ د افغانانو د خپلواکۍ غوښتنې د دويمه ستره جگړه هم د انگريزانو په بشپړې او تاريخي ماتې پای ته ورسېږي .

*** *** ***

نور نو له يرغلگرو پرنگيانو سره خونړۍ جگړې پای ته رسېدلې دي . د کابل ښار حالت بېرته ورو ورو مخ په عادي کېدو دی . خلك په ډېر و يار او سر لوړی بېرته خپل عادي ژوند او کار روزگار له سره پيل کوی . خود کابل ښار زياتې مهمې او تاريخي

سيمې او آبادۍ ورانې شوېدی، د کابل ډېره ښکلې او مشهوره چار چته په نکه بنگه شوی او له تاريخي او نامی بالا حصار څخه هم يوازې دخاورو اوا برو يوه ډېرۍ پر ځای پای ته ده. خود زرگری چتې ته سره

ددې هم هومره زيات تاوان نه دی رسېدلی.

اوس نو کاکه شېر پوله هغو مېړنيو غازيانو څخه دی چې له دې ټولو جګړو څخه يې سر سلامت وړی دی. د هغه د چپ لاس مړوند چې په جګړو کې د ګولۍ د لګېدو له امله مات شوی و، هم دا دی ورو، ورو بېرته ښه شوې. د کابل په ښار پوې ډېرې ښکلې او په زړه پورې پسرلنۍ ناوې له خپل ټول ساز او سينګار سره، خپله رنګينه لمن غوړولې ده. روح وره او عطر ناکې وږمې زړو نه تازه کوي او هرې خوا ته د غرو له ويلو شويو اورو نری نری لښتې روانې دي. خو روزګار او د هغه غمونو او کړاوونو د کاکه غازي طبعه ډېره بدله کړې ده، هغه اوس لوېده او بېره ډېره او اوږدې ښې لري، سخت چاغ نه ښکاري او هغه کوي چې له نورو ګوښی وي. خو ددې سره سره لا هم د لښتې، د کوڅې پر لښتې انديښنه د هغه له زړه نه ده وتلې. د هغه او لښتې له وعدې تر اوسه يا شتې څه چې ګلو نه تېر شوی، خوښېږي ته دی هغه زړه چې لښته هوره کړي. کاکه شېر که څه هم چې اوس خپل دوکان ته ځي، خو لاس يې چندان په پخوانی شوق او شور کار ته نه ورانږدې کېږي. بوچلم

یې ځان ته په دوکان کې ایښی دی چې هره شېبه یې سرخانه تشوی، بیایې ډکوی او په اوږ دواو یږدو کشو نو سره یې ځکوی. دغه په ماغزو او افکارو کې داسې څه سر موزه شان چرتو نوا و خیالانو ځاله نیولې ده چې هېڅ هغه له د ننه خوری.

ډېره موده پس کا که غازی یوه شپه ښکلې لښته په خوب وینی، خو سخت عجیب او وېرونکی خوب وی. لښته وینی چې د کېږدیو تر منځ څو سپور اتاو کړی وی خو اې ور اچوی او حملې پرې کوی. خو هغه ور سره په ډیرې سختی مقاومت کوی او سپې نه پرېږدی چې هغه وخوری، په دې کې یې یو نا څاپه په کا که شور ستر ګې لګېږی. نو ور غېږ کوی او هغه خپلې مرستې ته ور بولی. شیر هم لکه زمری ځان ور غورځوی او سپو ته یې داسې غوسه راځی چې ان یو یو له پښو نیسی، پورته کوی یې او پر ځمکې یې ولی او سم اه دې چې غواړی له سپو ژغورل شوی لښته له لاسه ونیسی او خپلې کېږدی ته یې ورسوی چې نا څاپه یې پښه په څه شی لګېږی له دې سره سمدت ټکان خوری او راو بښېږی:

- عجب خوب مې و لید ... لښته؟ ... هغه چېرته وه ... چېرته بېوی ، وخه به کوی؟ ... څه به وایي؟ څو مره به مې پر ګڼي ... ؟ او زه پر ښتیا هم چې سخت ورته پړیم ... البته ها؟!

دلښتې په باب چه تو نه سوداګانې او اندېښنې هڅمړ• د کاکه غازي په زړه کې پرسېږی او لو یدېږی چې په پالی کې د یره موده ور وسته کله چې د سنې شپې ورځې را سېږی کاکه غازي د خپل نا کراره زړه د تسل له پاره د یوه عجیب تصمیم نیولو ته مجبور روی. داسې چې پریکړه کوی چې راشه یو محل خود لښتې دوی تر پخوانیو مینو ورشه، گوره که پېوو یدې، گوره که لاهیڅ نه وی شوی او گوره که ... پیاهم کاکه شمرته ټکی خوب نه ورځی نو چې کله سپېدې چوی، کاکه غازی هم له بستره را پاڅېږی، ژر ژر اودس اولمونځ کوی او بیا نو پر ته ټردې چې په کور کې څه احوال ور پېږدي په خپل آس پښه اړوی او هغو سېمو ته ورځی چې د مړې موده پخو اهلسته دلښتې د پلار مېنې وې. څو چې کله هلته د یوې چمنې خواته رسېږی نو که گوری چې لا هم په هغو پخوانیو مېنو کد کوچیا نو پې شېمره کېږدی

ولاړېږي. هغه پەدې وهېږي چې لەدې ځايه وړاندې
تلل به ورته په ډېرې خطرې او لوړېږي تمام شي، او هېڅ
به هم پەلاس ور نشي. ښېښنې حملا و نزاکت هم لەدې ځايه
د کاکه شير د زيا تو مخکې تلـلو خنډ کېږي.
خوږ رېږدې ته پام کېږي چې په کوچيانو کې يو دول گڼه
گونه ده. داسې ايسې چې کوچيان غواړي لەدې ځايه کوچ
وکړي تول آخوا او ديخوا گرځي، څوك کېږدي راټولوي
څوك اوښانو باندې بارونه کـلکوي او ځينې ښځې هم مشکونه
منگی، منگوټي او ځګونه را اخلي او راځي لەهمدې چينې څخه
يې ډکوي، چې مه کړه پەلار کې بې اوبو نشي.

مېږې، وزې، وزگوړی، وريان او غوا گانې رمبارې
وهي او د کوچيانو له شور او زوږ که فضا لا پسې تودوي.
دلمر ځلانده مستر گه هم د وريښمين تنکي د اوچتو غرو نوله
شا سر راپورته کوي او په ډېری آرامی خپل زرين شادر
پر شاو خوا مېږو غوړوي. کاکه غازي ته ان همداهم
ښه ننه ښکاري چې د چينې ترخوا انتظار و کاږي او د کوچيو
ښځو در اتلو او لەچينې څخه د هغوی د اوبو ړلو ننداره
وکړي. نو ځان ته يوه بهانه ساز وي له آس سره چينې ته ور-

ښکته کېږي او دهغه د ډوډۍ پېړيو لګولو ځان مشغولوي.
خو لا ډېره شېبه نه وي تېره شوې چې وينې خو ټنه کوچۍ
ښځې له خپلو ځګونو او مشکونو سره را ځي چې
له چينې اوبه يوسي. خو چې کاکه شېر وينې چې هلته رچينې
ترخوا خپل آس وينځي، نو ډېره شېبه يوې خواته درېږي
آيا دهغو ترمنځ به لښته نه وي ؟
خو کاکه غازي چې د پښتنو کوچيانو په دود دستور ښه
پوهېدی، د کوچيو ښځو په ليدلو سره نور درنګ نه کوي
دخپل آس جلو په لاس له چينې راخوږي او څه لرې له چينې څخه
د يوې دامې پر سر ترخوا درېږي چې چينه او کېږدۍ ورته له
لرې ښکاري. دا وار کاکه شېر ځان دخپل آس په وچولو او
پاکولو مشغولوي. وينې چې ډلې ډلې کوچۍ نجونې او
ښځې چينې ته راځي او اوبه وړي.
کاکه شېر ته داسې ښکاريږي چې له هرې خوا د لښتې، د
دښتو او ويالو نو د دې سرغړ اندې ښاپېرۍ د مينې بوی
پرې لګېږي خو هغه پخپله نه مومي، لکه د اېنځر ګل، لکه
چې ويلي يې دي: ما ته دې ځان د اېنځر ګل کړه بوی دې
راځي ګل دې په سترګو نه وينمه. کاکه شېر که هر څو تر

ACKU

ستر گولانه یې څو څوواره. هغوی ته نظر کوي خو پدې څو ډلو کې لښته نه مومي . هغه لښته چې یوځل یې دا هغه ته په سینه او موسید لې ښه د پلوله څنګه یې ستر گې ور واړوی او دلویو غمونو سلا ماتونکې ښېټی یې له زړه سېك کړي . یواز یې په یوې کوڅې باندې سخت گومانې کېږي، د هغې هم لکه د لښتې او د چنارې ونه وې او هغه هم د نور و ترسنج په ډېر نا ز او مکیز قدمو نه اخلې. کاکه شیر د ځانه سره په زړه کې وایې: ښا یې هغه لښته وي . . !؟ زه نه خدای مې که هغه بیا وو ینې.. ! خود ! هم ډېره لښتې ته ورته ده .

د کاکه شیر زړه غواړی چې هغوی ته نژدې ورشی مگر پوهېږی چې دا کار باید د پښتونولی له اصلو نه کړی، ځکه کوچیان په ناموسداری او د ناموس ساتنه کې ډېره سخت چلند دو دلري. خو گوره چې دا مغرور ه کوچۍ یو ځل پاس هم نه گوری . . . ځکه نو د کاکه شیر زړه ته لوېږي چې لښته نده . . . څنگه کېدای شي چې هغه لږ ترلږه په یوځل تش کتلو د هغه ستړ یا و و ته دمه ور نه کړ ي ، نو لښته نه ده . .. تر دا منځه ورو ، ورو د کوچیانو قا فله

او کوچ تږل کیږی. نورې کوچنۍ ښځې د اوبو پسې هم
نه راځی او شیبه پس کوچ سر نیسی او روا نیږی . کوچ
په هغې لارې روا نیږی چې ترخوا یې کاکه شېرخپل
آس د رولی دی او پخپله ور ته په یوې ښېټې باندې په
خاورو ناست دی او چې کله هم د کوچیانو د قافلې
زیاته برخه تیره یږی ، بوازې له لرې د کاکه شېر
یوې دنګې خونړی کوچۍ ته پام کیږی ، چې د خپلو
اوښانو پرې یې نیولی خو چې هر قدم پرمخ ږدی ، نو لکه
دا چې سخت بې څه شی ته زړه ختلی او پریشانه وی یا هم
ډیر عزیز څوک ترې پاته کیږی ، بې وارهٔ یې وا ره هسې لکه
اښتټه پلو نیولې ترشا شا ګوری. ګوره چې د کوچۍ به څه
ته داسې زړه ختلی وی . !؟ ښایی هم اښتټه وی . .
چې د خپلې مېنې په لیونۍ پسې ، په کاکه شېر پسې چې
داد ی د لمنې لیو نیو خیالونو ونه صبریدونکې مینې ا ن
دلته رالا لهانده کړیدی ، داسې ختلی زړه او بې واره
ترشا شا ګوری . خو یوه شیبه پس هغه هم داویډه . کوچ
د ځنځیر د یوې ګړ ی په توګه د نورو ترمنځ د کاکه شېر
له سترګو پنا کیږی ، او کوچ له نږدی سموڅخه اوړی .

*** ***

داوړی تود موسم دی ، تود وخت دومره زیاته ده چې نه یو ازې په ورځ کې د چا و رته طاقت نشی راتلای ، بلکه ان په شپه کې هم دامې نایلا و تف باد دی چې نفس ترې په سینه کې بېرته و هل کېږي زیاتره خلك له کوټو څخه بهر پر بامو نو سو پواو دالانولو ، کې ويده کېږي ، خوهغه کسان چې په کوټو کې پريو وځي ، نو هم هر وسر و کړکی گانې در وازې او رو شند انونه خلاص پرېږدي .

او کاکه غازي چې عادت لري که هرڅو مره گرمي هم وي په کوټه کې د ننه پريو وځي ، د خپلې بالا خانې کوټې د روازې او کړکی گانې يې ټولې خلاصې کړيدي ، بياهم د خپلې بسترې د پاسه پروت او بوخادر يې په ځان را غو ړولی دی ، خو داډېرې موديو شوی چې نور خوب د کاکه شېرله ستر گو تښتېدلی دی . پخوا د خوب ځای کی ارخ په ارخ اوړی ، کله په بو ه چرت کې زانگی او کله يې هم بلها نديښنه ډوبوی . خوهغه ته د

سپوږمۍ په شپو لکه دا نن شپه چې ده، عجیبه خوږه او په زړه پورې مشغولتیا پیدا شوې، هسې چې اوږدې شېبې د سپوږمۍ سپینې ټیکلې ته په ځیر ځیر گورې نو هسې د اینښتي گرد مخ او سپینه څېره د بلنده سپوږمۍ پر مخ ورته تجسم مومي، نو له هغې سره در ازو نیاز خبرې او مرکې کوي. کله هم را پاڅېږي، چلم وهي او شنې تورې لوخړې یې له خولې را خېژي، لکه چې دده په زړه کې کوم بل شانې زورو را ور لمبې وهي او شنه دود نه او تورې لوخړې یې هغه له خولې راوځي.

نن شپه هم د کاکه شېر دوه سترگې هغې سپینې او دخوار لمبې شپې سپوږمۍ ته پاته دي، چې د ونو د ځانگو او پاڼو نو له منځه یې په ډېرې سختۍ د کاکه شېر تر سترگو ځان ته لاره ایستې ده، کاکه شېر ته هسې ښکاري چې هلو لښته ورته مخامخ ولاړه ده او د ځانگو او پاڼو د پلوله هغې و هغه ته گوري، کاکه شېر له ځانه سره په هغه دې خیالونو کې ډوب دی چې ناڅاپه د لوښود غږ په څېر څه غږ اورې له خپله ځایه نیم خوږه کېږي او له کړکۍ

څخه انګړته ګوري، چې ویني کوم غله د هغه د کور زیات مالونه په خپل څوریدلي څادر کې سره کوټه کړي چې وېې تړي. د کاکه شیرغله ته سخته غوسه راځي، چې د هغه د خپلو او نورو د نیاګي یې ورته ګډه وډه کړېده. څدازده چې به زړه کې څه ورګرځي چې پخپلوا عصابو کنټرول له لاسه ورکوي خپله پیش قبضه راواخلي او په غله د پیش قبضې په وارونو سره حمله کوي او چې څو هغه مخ راواړوي نو دوه درې چړې ورا چوي، چې پدې کې ناڅابه د غله له خولې دا ناره خیژي چې:

- آخ ظالمه! . . . وا ده دي راته نیمه خوا کړ ناوې دې راته کونډه کړه!!

پدې خبرې کاکه شیرتکان خوري او د هغه له وهلو لاس نیسي، غل چې له ټپونو څخه یې لیکه لیکه وینې رابهیږي، له دواړو مټو یې نیسي او ورته وایي:

- څه شی؟ ناوې مې دې کونډه کړه!؟

غل چې ښکاري یو ساده کوچی دی، په پښو یې سستي راځي، ریږدي . . . او په نیولي سا کاکه شیر ته وایي:

ـ هو ! ما دهمه دي له پاره غلا کوله ، چې د خپل واده خرڅ سرڅ پوره کړم . د خپل واده نیمایي سودا مې هم کړې خو ظالم خسر مې نو رهم غواړي او واده مې ځنډوي ، نو دادی چې بله چاره را پا نه دې حصره شوه او څنګه چې اوریدلي مې وچې ته د بر دنیا دا ره شتمن او معتبره زر ګري نو ستا غلا ته مې ملا و تړله . . . خو زما ټولې هیلې او ارمانونه دې دادی را ته نیمه خوا کړل . . . ودې و ژلم !!

د کوچي غله په دې خبرو کاکه غازي ته سخته پښېماني ورځې او د ځانه سره وایي : خومره بد و شول چې هغه مې په چړو وواهه . . . ښایي هغه ته په رښتیا هم بله چاره نه ور ته . نو کوچي ته په عذر او زاریو شروع کوي او هغه د ځانه سره خپلې مهمانخانې ته بیایي ، هلته ژر له ته دود ور ته کوي او د هغه په ټپو نو باندې یې پړدې او په پټو وهغه سره تړي . خو دومره یې زړه ډاډه کیږي چې کوچي په چړې کاري نه دي لګېدلي ، ښایي چې ښه شي ، نو ور ته وایي :

ـ کاشکې چې ما ته دې له غلا کولو ور ته و ویلي

ACKU

وای . . . کاشکي در پاندې خبر وای ، چېرته مې دا سې کول ، خوراشه او س هم خدای لوی دی څه به شی !

له دې خبرو پس کا که شېر د ستی شکسته کړې ی خپلې کوټې ته ځي اوله بوې هغې وړې ګټورې سره چې پېسې پکې شرنګېدې بېرته راځي ، هغه د کوچي ترمخې پرې دی او ورته وایی :

- خیر دی وروره ! تا به خدای څه کړی ، ژر به څه شی ، خوز ماداوس تول شته همدا زر کابلی روپۍ دی چې دادی نیمایی مې یې تاته راوړې ، نودادرواخله او خپل واده پرې جوړ کړه !!

دېسو په لېدلو او په تېره بیاد کا که غازی ددې نه تصور کېدو نکی چانده په کتلو سره د کوچي ځو ان سترګې له ډېرې اریانتیا غټې له کاسو راوځي . بیانو هسې په ویښو لړ لی راپا څېږی ، کا که شېر په غېږه کې نیسی او سترګې او بېره یې ډېره یې ښکلو ی او سانیولی ورته وایی :

- یره وروره ! که زه پښتون نا رېښه ږم ، نو ستا

دا لویه میړانه او مړسته به تر خپل مرګه هیره نه کړم پوازې دومره چې هیله کوم که خدای روغ کړم نو واده ته به مې ضرور راځې ... هرومرو !!

کاکه شیر د مجبور کوچی دا بلنه ومنله او بیا هسې چې خپل چلم را اخلی تازه کوی یې او څو دوده یې څکوی ، نو بې په زړه کې څه ور ګرځی او کوچی ته وایی:

ـ خو ګوره وروره ! دا کوچی سلو خان خو به نه پیژنی!؟

د دې نامه په اوریدو سره کوچی په دار یانتیا سره یو وار بیا کاکه شیر ته برندې او غټې غټې ګوری او شیبه پس ورته وایی :

ـ دا د تره خپلو سلوخان خو به نه یادوې . . . څې داد باد آسیاد غونډی تر خوایې مینې دی ؟

او کاکه شیر هم ورته په ډېرې خوښۍ او یو څه حیرانتیا سره سر خوزوی :

ـ هو! همدا سلوخان درته یادوم ، لکه چې پیژنې یې؟

کوچی سر خوزوی او په ډېر درد او خوا شینۍ سره کاکه شیر ته وایی :

ـ سلو خان دې خدای په ګیله نه مړ وی ! هم هغه

ACKU

خدای خوار نکړی زماخسر دی کنه چې داهسې ناد ودو
کواو ته یې مجبوره کړی یم که نه نو زه د خدای ساده
کوچی چېر ته او غلاچېر ته ؟ ؟

د دی خبرو په اوریدو کاکه شیر څه نوی هیجان
پر مخه اخلی، رګ رګیږې په رپېدو راشی او سره خوله یې
د شاپر تختې را ماتیږی. داسې احساس کوی چې
ګو اکی هډو نه یې د زنیږی بیا هم چلم ته لاس
اچوی او هسې چې او یې دی شدېې پر له پسې
چلم څکوی او توخیږی، نو دا خبره یې زړه ته در یږی
چې آخر هم د سې، او کوچۍ لښته هم خدای د دې کوچې
لایقه کړه ها؟ بیا د خاله سره سوچ کوی چې که د لښتې
واده ته ولاړ شی نو ښا بی وکړای شی لښته د ورو ستی
ځل له پاره وویني کاکه شیر کوچۍ پرې باسی چې یوه شیبه آرام
وکړی، خو خپله تر ملا آذانه پورې و نه کیښی، داسې
ګومان کوی چې ژوند او روزګار له هغه سره سختې
توکې او نخرې راخستې دی.

سبا د لمر له راتو د یدو سره سم کوچې هم راپاڅی

ACKU

او له هغه کله‌شیر سره سبا نارې کړې ، شور دهغه پر تپونو
پاندې په کور کې موجود ملهم ږدی او هرتپ یې
ورپسې سره تړي په وینولړلي جامې تړي وباسي او خپلې
یوه جوړه ښایسته جامې ور کوي چې وا یې غوندي. او کله
چې له کوچې سره له ګرېدو پس داد پیدا کوي چې هغه
تللی شي، نو بیا هم ترې عذرغواړي ، پر سر او مخ یې
ښکلوي او رخصتوي یې او پخپله په دیرې تلوسې دهغې
ورځې د راتلو په انتظار پاتې کیږي چې کوچی‌ځوان دی
خپل واده ته ور وغواړي .

***　　　***

د کوچیانو واده ، د هغوی دود دستور ، هرڅه
کلاه‌شیر ته په زړه پورې خوږ خو ناآشنا ښکاري ، هغه
همدا څو شپې سخلې په واده کې د برخې اخستو له پاره
را رسیدلی او دادی دهغه کوچي له مشر ورور سره په
یوې ملې اولړو ورې کیږدی کې چې دهغې پیشکه یې پرې
پوره کړې ، ناست دی .

دوه دري ځوانانو رته او په دوه‌دي راوړي ، او چلم
او تنباکو ور ته هرا بروي ، کوچی زوم هم چې نوې جامې

بې پرځان او ښکلې ښکرې بې تړلی ده، هره ګړئ اس تیار
د کاکه شیر کیږدی ته د هغه د در ناوی له پاره ورځی
او د هغه عزت او خدمت کو. تاکه شیر یې د همدې له پاره
په یوه لوی او ګوښې کیږدی کې کینولی چې د ښاری میلمه
قدر ته ورسیدلی شی. په داسې حال کې چې نور سړیان
او میلمانه زیاتره له کیږدیو بهر او یو څه هم په نورو
کیږدیو کې سره یو ځای ناست دی.

ملا کاکا هم چې د نورو سپین ږیرو سره په یوه
لویه کیږدۍ کې ناست وی، له اصله د ښاری میلمه
په راتلو خبر نه وی هم نه. خو پدې شپه نې څوک خبر دی
چې د هغه په زړه څه ګرځي او څه ډرې تدبیری، کاکه شیر
په دې اند یښنه کې دی چې آیا هغه به ناوې ایسته ولیدلای
شی؟ او که نه د دې ورستی دیدن ارمان به یې هم په زړه
پاتې شی. یوه شپه چې د کوچی مشر ورور د هغه کاره
پاره ځي، نو کاکه شیر هم خپل چلم تازه کوی او هغه
کوی هسې چې چلم څکوی د کوچیانو دواده په ننداری
— ده څه شپه خپل چلم غلط کړی. هلته ورانډې دولو

د رمېږي او کوچي ځوانان په داسې حال کې چې خپلې
ملاوې يې تړلې او رنګارنګ د ستمالو نه
په لاس کې لري ، په خورا جوش او مستي
سره اتڼ کوي . هغې بلې خوا ديګي باندې دي ، له
نغريو څخه غېږ غېږ لوګي خېږي او د خړو اشتها
پارونکي بوی خور وي . په دې بلې خوا هم د کو-
چيانو د ښځو د چمبې وهلو سندرو او پدلو خوندورې
انګازې په مزې مزې سره غوږو نو ته نوازش ور کوي .
مشرانو مېلمنو ته يې لوی لوی تغرونه له کږې د يو
بهر اوار کړي او رنګارنګ ليمڅي يې د هغوی د ناستې
له پاره غوړولي دي. ګڼ شمېر نور سپين ږيري او مشران
هم په مخابخ دوو نورو لويو کېږدو کې سره
راټول شوي او يو شمېر تکړه ځلمي ځوانان د مشرانو
او مېلمنو چوپړ کوي . کاکه شېرته د اهر څه هر څه
نوی ښکاري ، هغه کله هم بخوا د کوچيانو واده نه وو
ليدلی او ځکه نو هر څه ورته جالبه او په زړه پورې ايسي .
پدې کې که ګوري چې دوه تنه کوچيانې ښځې راځي
او له يوه سپين ږيري سره له څه و پلاوه پس بېرته ځي . ګوره

چې د دوی را تلګ څنګه یو ځل بیا کا که شېر ته لېښته
ورېا دوی او یو ځل بیا د دغې د وژونکې بېلتانه درد
د شېر په زړه منګول لګوی . او چې کاکه شېر له ډېره درده
بیا هم چلم را اخلي تازه کوی او لګوی يې، نو سم ورسره
کوچۍ زوم د دغه څخه راځي او هسې چې مخامخ ورته
د دوو پښو په سر کېني ، په یو ډول عذر سره وایي :
ـ رو کېږه! موږ خو په دې واده کې داخپل کوچیانۍ دودونه
کوو کنه ... چې ستا زړه تنګ نشي .. . به د ې لمر
پر یو توکې موږ دود لرو چې زوم له تو لو ناریینه وو
سره په زیارتو نو ګرځوو ... ستاځې څنګه طبعه وي ... او
که نه ځې هم خو ښه دې خپله، زه وایم څې ستړی نشې
زه به چا ته ووایم څې ستاد یاره دلته پاتې شی .
خو کاکه شېر چې فکر کوی په تن څه چې آن په
زړه ستومانه دی ، نو د کوچۍ عذر کوی چې تاسې لاړ شی
پس چې دا چلم را ته ایښی وی ... نو نور هیڅ هم نه
غواړم ستا سو دې زیارت قبول شی .
کوچۍ زوم هم ترې اجازت غواړی ، پاڅیږی او ځی. لږ شېبه وروسته
ستنه کاکه شېر ګوری چې تول ناریینه کوچیان د زوم په مخ ګه

چې پر هو رنګا رنګه تو تو، د سمالونو او هو ندیو
با ندې په ښکلې شوی آس سپور دی، د زیارت په لور
خوزېږي، خوږه دوه لس ښځلس کلن هلکان د کاکه شیر
خدمت ته ګماري... هغوی کاکه شېر ته داو داسه له
پاره اوبه راوړي، کاکه شېر اودس کولو ته ولاړ، شاوخوا
په نورو کېږدېو کې د کوچیانو ښځو سخت شور ماشور دی.
خو کله کاکه شېر ښه او ښکاره هرڅو سترګې اچوي
مګر لښته، ناوې لښته، چې دادی د خپل بخت کور ته
روانه ده، نه موسی، په کېږدی کې د لمانځه له ادا
کولو پس یو ځلمی ورته خوږې او اوړې شهدې راوړي.
خو هغه بې لاد کاکه شېر مخې ته نه وي ایښې چې
کومه ښځه هلکه ته ناري کوي، ځلمي ورځي او په منډه بېرته
راځي او کاکه شیر ته وايي:
ـ دلته د زوم څه شی هېر شوی دی، ته کېنه زه
به په یوه منډه هغه ورورسوم او ژر به بېرته راشم او
کاکه شیر هم دا ور سره مني چې ښه ده، لاړ شه.
او چې سم دادوه تنه ځلمي هم د لا رینه و وپسې په منډو منډو
روانېږي، له ښځو، له کوچیو ښځو سره د کاکه شېر یوازې

پلار ته کېدل، هغه ته يوه بلا او غم عجيبه ښان وېره او اندېښنه راپيدا کوي. مګر کوچيان څه به ګمان و نه کړي ؟ خوګانې پدې ږده کو کوچې نمر ومر ويو خو تنه تاريښه خوبه وي . . .

له رڼما شغشپه مخکې دغر ونودلږ بوشا ته پربوتلی خو هو الارو ښه بانه ده ، په زړه پورې ودېسې او نرۍ باد د دښتو له خوا په کېږ ديولګېږي ، دا وار کا نه شمردې نوې اندېښنې په بدر ګمچلم تازه کوي او څکوي يې. خو ناڅاپه په دېرې حير انتيا او ان بودولووبرېسره ګوري چې د کېږدۍ د شا پېشکې پور ته کېږي او يوه کوچۍ ښځه چې په يوه لوی ټيکري کې يې ځان نغاړلی وي، غلې د کا که شېر کېږدۍ ته ننه وځي . د کېږدۍ پشکه بېر ته ښکته کوي او هسې چې هغه کوي ښه ځان د کا که شېر تر شا پټه کړي ورو په هغه غږ کوي :

ـ زرګره لېښته يم !.. ته د لته له کومه شوی ، ته خدای له کومې دلته راوستی ها!؟ سا خوښ : نا په ش بيا دېدې هسې د پېر باباندر په غاړه اخستی وخوداد ي پېر بابا مې

-سوال ومانه ... او ته بې پخپله ساتم او ستا لی ... د پیغور بابا د نامه نه مې قربان کړی ...

خوکاکه شېر دلبنتې په دې نابېره راتلو او ناڅاپی لیدو داوسې او خطا کېږی چې هم او نفس یې په کو گلکې بند یږی.

-لبنتې ته دلته څه کوی !؟ له دې ځایه لاړه شه! ... ستا خو وادهٔ دی ... خدای دې خیر کړی ... مبارک دې شه، خو در څه چې څوک دې دلته و نه وینی ...

خولبنته یو ډول سا ئېولې اوویې د لې پلو له مخې لرې کوی، د مخ پنګړه یې اندکاکه شېر زړه روښانوی او له دې سره وایی :

-نه زرګره اواده خوزما د مشر ی خور دی، که زه داوې وای نوچېر ته د ا سې تر تاراتلی شوم ... خو ګوره زرګره! اوس چې پس له موده ومودو خدای ژوندې په لاس راکړی ... نو نور دې نه خوشې کوم. نه دې پریږدم ... ما ننګ د رته راوړی زرګره!!

دلبنتې په خبر وله تولو څمونو اواند یښنو سره د کاکه شېر په زړه کې یو نوی قوت او نا بللې خوښی

ACKU

راغورځېږي، خو نه پوهېږي چې لښته څه غواړي؟ مګر لښته لکه داچې ډېره تلوسه او وېره لري نو کاکه شېر ته وايي:

- ګوره زر کړه! ته مې ډېر خوښېږې، خو دا دی اوس چې تر تا پورې راغلم نو د پښتو او ننګ مې پر غاړه اخستی او له تا سره ځم... نو نور وخت نه تېروه، دا دوه ملکان هم ما په خوشې بهانې په نارينه وو پسې ولېږل، نو را پاڅه چې ځو! ښځې د زوې نه راتاو دي او ز او ستا مخه څوک نشي نيولای... خو چې څوک خبر نه شي.

او دا ته دی چې شېر پخپل ټول ژوند کې له ډېر سخت او ډېر خطري امتحان، دا ښتې د مېنې له ډېر سخت آزمېښت سره مخامخ کېږي، آيا د پښتونولۍ رعايت وکړي؟ آيا په ننګ او پت پسې وګرځي، آيا د ودود او دستور په نظر کې ونه نيسي او له ننګه ټول بوي خو را هرېږ دی او دنې مرغرانې پاپرې د تېکرې او بلوهېلې ته وګوري او څه پرېکړه وکړي، د دغې کوچې پېغلې هېله چې په ډمدې کړې کې بې په ډېره مېړانه خپل سر هر کاکه شېرا يښی دی او هر څه يې پرېکان منلي دي، خو لوی خطر و ننګاودرنه رسوايي د واړه ډېر نژدې وينې، لښته پداهم په ډ يرې

تلوسې او تلوار سره ور ته کتلکېږي :

- زرګره! زه به دې پلو او ټيکري د رته راغلې او در ښاندې د ربدلې يم . . . نو که ته مې به سودان ښريږدي . . . واك دي خپل دی، ته پوهېږې اوس چې تر تا راغلم نو او به له ورخه و او ښتې ا و که څوك پدې خبرې پوه شي، نو بې ددې هم د ادې او سه بېژوندې به سې پورې نه پو دی خو ما مرګ هم ستا د پاره منلی دی . . .

کاکه شېر ته د ژواندې ره حماسه او ډېر ښکر و نکې شېبه تر سخ کېږي ، د ی با يد هغه لته د ژنګه، پټ رسوا يی، ژوندا و مرګ فيصله و کړي. خو هغې چې لېښته لا هم و ر ته کتلکه وی، نو هغه شېبه سر ښکته اچوی او دامې ګنی لکه چې چاغر و نه غزو نه پېتې د هغه پدا و ډ وا ښتی وی او پدې کې خپله و روستی فيصله کوی ، نو لېښتې ته و ابی چې د آس تر خوا ځان و رسوی او پخپله هم و لاړ يږي ا و خپل آس ته څخه ورځی او به ډېرې ډېرې پښه اړ و ی. کوچی

ښځې فکر کوی چې ښاری معلمه ځی، خو کاکه شیر لښتې ته لاس ور غزوی، لښته هم په خپل ټول ژوند کې د لومړی ځل له پاره خپل لاس د کاکه شیر په لاس ږدی او هغه له لاسه نیسی او پر آس ور پورته کیږی کاکه شیر آس لمبهوی، خو تر هرچا مخکې ځوتنه ماشومان هغوی وینی او شور پکتاو ناری سوری جوړوی :

ـ ملی چې لښته د معلمه سره لاړه!!.. ملی ملی چې ولاړل!!؟..

خو کاکه شیر لکه داچې یوځل بیا د نوی ژوند تازه سا یې په غړو کې چلیدلې وی، نو آس ته پونده ور کوی او په داسې حال کې چې د کوچنیو ښځو مخت شور، چیغې او ناری فضا پر سر اخلې د کاکه شیر خیالی آس هم لکه باد سم الوزی او هغوی په ډیری چټکی له هغې سیمې څخه لوری باسی.

ماښام نژدې او تورې خړې هرې خوا وزرونه غوړ ولي. خو لا ډېره شېبه نه وه تېره، چې هغوی په همدې تورې خړې کې د کوڅو څخه له سترګو ورکېدې. لکه چې هغوی په همدې خړې تیارې کې حل شوي وي. ته به وایې چې لکه د لیلې او مجنون په څېر ستوري شول او آسمان ته وختل او یا هم ځمکې هغوی ته خپله ارته سینه پرانسته او هغوی یې خپل کوګل ته ور کړل او بیا نو که هر څومره او هرې خوا د هغوی پسې لټه وشوه، هېچا هم د هغوی درک و نه شو لګولی او داشان کاکه شېر او لښته د تل له پاره په همدې تورې خړې کې ترې تم شول. ډېر کلونه د هغوی کیسې خوله په خوله ګرځېدې، ترڅو چې هغه هم د کاکه غازي له ټولو مړانو او هېواد پالونکو کارنامو سره یو ځای د خلکو، هېرې شوې، د زمانو ګرداو خاورو هغه پټې کړې وپوهېږئ او د خلکو له اذهانو او افکارو څخه یې بلکل پاکې کړې. (پای)

کابل ـ کلاچه ـ ۲۱ ر ۲۲-۶-۱۳۶۸

# سمون لیک

له هغې هڅې سره سره چې په دې اثر کې له طباعتي تېر و تنو څخه د مخنیوي له پاره وشوې، د ماتو ټایپ د ځانګې د حروفو د زړښت او خرابوالي له امله بیا هم یو لړ تېروتنې شوې، چې له ګڼو لوستونکو څخه په ډېرې منښې هیله لرو، هغه د اثر له لوستلو مخکې جوړې او اصلاح کړي.

| مخ | کرښه | ناسم | سم |
|---|---|---|---|
| ٦ | ١٨ | مقی ابل | مقابلې |
| ٨ | ١٧ | خوال | خوالی |
| ١٠ | ١٨ | کسه | کاکه |
| ١٢ | ١ | بې دوی | بی خوی |
| ١٣ | ١ | خرات | خرابات |
| ٢٩ | ٣ | قل ی | قلمی |
| ٣٤ | ٦ | هوی | هوسی |



ACKU

| مخ | کرښه | ناسم | سم |
| --- | --- | --- | --- |
| ٥٣ | ١٥ | دد شېر | دشېر |
| ٢٩ | ٨ | امېري | دامېر |
| ٦٠ | ١٠ | خاوری | خاوري دي |
| ٧٥ | ٤ | لمبه | لمبېته |
| ٨٣ | ١٢ | پاخېه و | پاخېدو |
| ٨٧ | ٩ | له اسلحه هم | له اسلحه |
| ٩٣ | ٩ | ني | وني |
| ٩٦ | ١١ | کړ | کړی |
| ٩٦ | ١٥ | هم مي | مي هم |
| ٩٧ | ٣ | گ | رگ |
| ٩٨ | ٦ | ورستی | وروستی |
| ١٠١ | ١٨ | قه | قهر |
| ١٠٤ | ١ | م ی | ملی |
| ١٠٥ | ١١ | جلاآباد | جلال آباد |
| ١٠٨ | ٨ | تیام | قیام |
| ١١٤ | ١٨ | مېنه و کد | مېنو کې د |
| ١١٧ | ٢ | موصی | موسی |
| ١٢٣ | ١٣ | نه تصر | نه تصور |




ACKU

| مخ | کرښه | ناسم | سم |
|---|---|---|---|
| ۱۲۶ | ۱ | اکه‌شیر مره سپا اری | کاکه‌شیر مره سپا ناری |
| ۱۲۷ | ۳ | کو | کوی |
| – | ۷ | وځای | یوځای |
| – | ۱۸ | مه | سره |
| ۱۲۸ | ۱۵ | وی | نوی |
| ۱۳۱ | ۲ | آدیښنه راپید | اندیښنه راپیدا |
| – | ۱۰ | پیښکی | پیښکه |
| – | ۱۷ | ما اپه‌ش بیا دیدن | ستا په‌تش بیا دیدن |
| ۱۳۲ | ۴ | داوسی ارخطا | داسی وارخطا |
| ۱۳۳ | ۴ | پو رری اغلم | پوری راغلم |
| – | ۴ | او پښنو | او پښتنو |
| – | ۷ | نوی | ناوی |
| ۱۳۴ | ۱۲ | عزونه | غرونه |
| ۱۳۵ | ۴ | ورپواته‌ر | ورپورته |

PROPERTY OF ACKU



ACKU



# دلیکوال لنډه پېژندنه

مصطفی جهاد لیکوال، شاعر او ژورنا لیست دی.

دګلو ځولی په‌نامه دهیوادد موسیقی دهنر مندانو لومړنی تذکره (اول ټوک) اود (کوچیان او نوی ژوند) په نامه کتابونه یی‌چاپ شوی‌دی.

دګلو ځولی (دویم ټوک) د لنډیو ویشنه، میلمه پالنه په پښتنی فلکلور کی، دکار په باب دپښتنو عامیانه‌ږ نسیبونه او دداستانونو مجموعه، دشعرونو او ادبی ټوټو مجموعه او دلنډو داستانونو دمخکښو لیکوالو یو منتخب‌یی هم چاپ ته تیار دی.

جهاد دلیکوالو دټولنی، د ژورنالستانو د اتحادیی اودحقوق پوهانودټولنی غړیتوب لری.

د هغه همدی رومان (د تخت‌غمی) په‌دیار لس سومه اته شپیته‌کال دلیکوالو دټولنی په کانکور کی لومړی جایزه ګټلی ده.

دولتی مطبعه

Download from:aghalibrary.com